

Ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library

پاتې شه باران دی – ناول

لیکوال: مصطفی سالک

داسې ورځ به کمه راتله، چې زه دې ټولګي ته راشم او د هغې سندره دې وانه ورم. هغې به هره ورځ سندره ویله، په پیل کې خو به د هغې پر شونډو موزون کلمات زما لپاره یوه عامه سندره وه، خو د وخت په تېرېدو د هغې سندرې زما لپاره یو نوې خوند پیدا کړ. زما احساسات به یې داسې په لړزه راوستل لکه د غره ویاله،چې به خپله نرمه او غلې سندره د خپلو غاړو نازک واښه په نڅا راولي.

زموږ ټولګی هم عجیبه و،بس چې د ښوونکي سترګې به پناه شوې، هر څه به بدل،بدل شو په یو کنج کې به یې داسې شور ما شور و لکه د مني په ماښام کې چې چینجنې د ځنګله په ونو کې چنېدل د خپل ژوند یوازینې مقصد ګڼي،خو په بل کنج کې به د ځانګې غلې سندرې سړي ته د ځېړیو په پاڼو کې د نرمې هوا له نڅا پیدا کېدونکې نغمه یادوله.

(c) ketabton.com: The Digital Library

بیا به چې استاد راغی په صنف به د صحرانۍ شپې خاموشي خپره شوه او ټول زده کوونکي به به خپلو خپلو چوکیو کېناستل نو زما ذهن به د ماضي په لور ګام واخیست او پر هغو شپبو به تم شو چې څانګه د لومړي ځل لپاره زموږ ټولګي ته راغلې وه. زموږ ښوونځی پېښور ښار سره نزدې و،نور کړه وړه یې د افغان مهاجرینو د عامو ښوونځیو و،بس دومره خبره وه چې نجونو او هلکانو به په ګډو ټولګیو کې زده کړه کوله. د ښوونځي ښکلې او پخې ودانۍ ګنې خونې درلودې خو زموږ د ټولګي کوټه خامه وه.

کله چې د زده کوونکو او ټولګیو شمېره ډېره شوه،اداري په عاجله توګه دا کوټه جوړه کړه او زموږ په برخه ورسېده.

ښه مې یاد دي چې به هاغه ورځ ښوونکی تازه له کوټې وتی و، اسمان د شړکنده باران په رګونو کې د برېښنا شوخې جلوې شیندلې او چې د تندر ګړز به شو نو ځینې شوخې نجونې به په هیبتناک ډول یو بل ته غاړې وتې او ځرګنده به یې کړه چې ګنې تندر وویرولې. ځینو به په غوږونو کې ګوتې منډلې،زمرک ور غږ کړ چې ځینې تاریخ پوهان په حقه پښتانه بني اسرائیل ګڼي هغوی به هم د تندر د غورځېدو پر وخت د مرګ له ویرې په غوږونو کې هم ستاسو په څیر ګوتې ورکولې. او چې باران زور واخیست نو د ټولګي چت څو ځایه په څڅېدو شو. بیا

(c) ketabton.com: The Digital Library

نو شوخو نجونو ته خدای ورکړه. د ځانونو سره راوړې چترۍ یې په سرونو ونیولې او په ټولګي کې یې ښکته پورته کېدل پیل کړل.

په همدغه ګډوډۍ کې یو نا څاپه د لیسې سر معلم راننوته،چې تر شاه یې یوه لونده خیشته جینۍ هم ولاړه وه،حیا یې له رخسارونو په ورېدو وه او په خپل لامده څادر یې د خپل بدن د هغو برخو د پټولو هڅه کوله چې د جامو د لوند والي له کبله یې د ځوانۍ مرموز نمایش کاوه. سترګې یې ځلېدې او له زلفو یې د باران څاڅکي ورېدل کټ مټ هاغسې لکه د ستورو له شپې چې پرخه وورې.

جینۍ ښکلې او جذابه وه،ځکه خو ټولو هلکانو په تږو سترګو ورکتل.

سر معلمې وویل دا جینۍ څانګه نومیږي،کړه وړه او ځانګړتیاوې یې د روایتي کلي والې پېغلې برېښي،خو زده کړه یې همدلته په پېښور کې کړې ده،پس له دې ګړۍ دا ستاسو ټولګي ملګرې شوه. پرې به پام کوئ،زړه به یې نه ماتوئ او په درسونو کې به ورسره مرسته کوئ. خدای دې وکړي،چې د ادارې دا هیلې پوره کړئ دا یې وویل او جینۍ یې پرېښوده.زما تر څنګه چوکۍ تشه وه راغله او کېناسته،دا چوکۍ د زرینې وه په هغه ورځ نه وه راغلې او چې صبا راغله پخه یې ورته پرېښوده. څانګه کېناسته په ټولګی کې بیا خبرې پیل شوې،خو څانګه چپ،چپ وه.

(c) ketabton.com: The Digital Library

کله ، کله به یې د اړدو ښو د پورته کولو جرات وکړ او په خپلو تورو بادامي

سترګو به یې د ټولګي د لنډ تنګ چاپېریال جاج واخیسته.

هر څوک به چې ښوونځي ته نوي،نوي راغلل هفته نیمه به غلي و ، خو بیا به یې

له شوخۍ نه زړو شاګردانو امان غوښت خو ځانګه داسې ونه خته،د وخت په

تېرېدو یې خپله خاموشي وساتله،بس سحر ،سحر به یې د ټولګي نجونو ته په تت

اواز سندره ویله.

هلکانو به ډېر غوښتل چې له هغې سره خبرې وکړی خو هغې به لکه د هوښیارې

سیاستدانې خبره اوږدېدو ته نه پرېښوده بلکې لنډه به یې غوڅوله.

د هلکانو دا هڅې هم هېڅ بې هېڅه نه وې،ځانګه له راښکونه ډکه وه،ښایست یې

له حقیقته افسانو ته نږدې و،نریو شونډو سرخي یې تازه غوړېدلې غوټۍ ته پاتې

کېده او چې موسکا به پرې خوره شوه تشبیه موندل یې ناشونی برېښېده،بنده ویل

بس چې ورکتی مې،په څېره کې یې یو عرفاني راښکون و،صراحي غاړه،نرۍ

ملا،هوارې هوارې نرۍ سپینې ګوتې بس د فطرت د تناسب او توازن غوره بېلګه

وه نور به درته څه ووایم ، د حمزه بابا خبره ګوري چکی وه که له هرې ډډې به

دې په نظر وڅکله خوږه وه او زلفې یې ! داسې تورې،اوږدې او درنې وې،چې

څه به یې درته ووایم،زرینې به کله،کله په شوخۍ سره ویل (ظالمې دا غرونه

(c) ketabton.com: The Digital Library

غرونه زلفې به دې اوږې ماتې کړي او نرې ملا ته خو دې لوی ګواښ دی،زه به يې درسره ګرځوم دا به يې وويل: د ځانګې زلفې به يې پر خپلو اوږو خورې ورې کړې او داسې په کړس،کړس به يې وخندل لکه ځوانه برېښنا چې د ګورو وريځو لاندې غزونه وکړي. د ځانګې څوکۍ که هر څو زما تر څنګ وه خو په کومه ورځ به مو چې د جغرافيې ساعت درلود. کله،کله به يې زما پر لور سترګې را اړولې، د هغې پاملرنه زما د خوښې سبب ګرځېده،خو يوه پرېشانونکې معما هم وه. دا زما لپاره ستر سوال و ، چې ځانګه اخر ولې په هغه ورځ زما په لور سترګې را اړوي، چې د جغرافيې مضمون لرو،خو هېڅ نه کېدل او دغه راز لکه د تېره ازغي لا پسی زما پر ذهن خښېده،هڅه به مې کوله، چې د ځانګې د دې عجيب حرکت په اړه فکر کول پرېږدم او ځان د استاد په تشريح کې ډوب کړم کله به په دې هڅه کې پاتې راتلم او کله بريالی کېدم خو چې ښوونکی به نه و،ځان به مې بل راز مشغولاوه،بر شونډو مې لکه راګ بې کليماتو زمزمه خپروله،تشه زمزمه به نه وه کومه پښتو اولسي سندره به وه خو اواز مې خوږ نه و له همدې کبله مې د کليماتو له ادا کولو ډډه کوله او ورو ، ورو مې لکه د رباب تشه نغمه ويله.

شپې ورځې تېرېدې،د ژمې رخصتۍ راغلې ، زه چې له خپل سيلاني طبيعت نه

(c) ketabton.com: The Digital Library

مجبور یم د زمرک سره سوات ته لاړم، سره له دې چې عام وګړي په اوړي کې سوات ته ځي ، خو موږ د واورو مینې په ژمي کې بوتلو،د فطرت په منظرو کې ورک شوم،خو بیا به مې هم کله ، کله د جغرافیې ساعت او د څانګې په ترخ کتل رایادېدل.

مرمرین وجود به یې لکه د یوې خیالي ښاپیرۍ په څېر د سیند په څپو کې غزونې کولې. کله کله به مې هلته هم زړه تنګ شو،ویل به مې چې وزرې وکړم او د سکون کومې ښکلې درې ته پرواز وکړم،خو دا ناشوني وه.

خو په یوه خبره کې مې بخت بېدار و او هغه دا چې زمرک راسره و هغه په ټولګي کې زما تر ټولو نږدې ملګری و ، ډېر ښه صفتونه یې لرل ، خو ذهانیت او شوخي یې زما ډېر خوښ وو. د هغه سره به مې خبرې اترې کولې،خو کله کله به ترې ګوښه شوم یوازې به مې د سیند سندره اورېده او د موجونو ښاماران مې په وړو کانو وېشتل،خو هغه هم پوه شوې و،چې څه خبره خو شته.

زما نه څو ګامه ور ایسته هغه هم د سیند په غاړه ناست و او د راډیو نه یې پښتو سندرې اورېدې،زما ذهن به هم کله نا کله د سندرې په لور اوړېده،په دې کې یو ناڅاپه د راډیو غږ بند شو. د زمرک غږ مې واورېد ، چې وې ویل هیلو ! هیلو ! چې ور ومې کتل خپله راډیو یې لکه ګرځنده (موبایل) ټلیفون غوږ ته نیولې وه او

(c) ketabton.com: The Digital Library

ویل یې، هیلو ! غزنه غزنه وه دا ته په کومه دنیا کې ورک یې مړه سوات ته راشه،ستا خو نغمې خوښیدې سیند نغمه وایی د خوښۍ نغمه ډېره خوږه نغمه.

ما چې د هغه دا پیغام واورېد لمن مې څنډ وهله او خواته یې ورغلم ،ورته مې وویل ته وایي چې سیند د خوښۍ نغمه وایي،که زه خفه یم نو بیا د غم او ښادۍ د دې ګډون پایله به څه وي ؟

ځواب یې راکړ،چې ته خفه یې د سیند دا نغمه به دې له زړه نه د خفګان ټول ګردونه لرې کړي او خوشاله به شې.

زمرکه ته چې څه وایي له یوې زاویې نه ښه وایې،خو زه فی الحال دا نه غواړم چې فطرت ته تسلیم شم،زه به هله له فطرت خوند واخلم چې د خپلې جذبې او تخیل په خم کې یې رنګ کړم هغه موسکی شو او راته یې وویل،تېره اوونۍ دې د فلسفې کتاب څه واخیست چې اوس په غمونو کې ښکلا لټوې،سمه ده چې ته فطرت په خپل رنګ کې رنګوې،زه به په غوږونو کې ګوتې ورکړم ته د غره نښترو ته اواز ورکړه چې ټول سریندې شي اوره بیا د ویر او غم سندرې.

زمرکه فطرت تر موږ ډېر پهلوان دی صرف په خیال کې مو پرې وس بر دی. د حقیقت په دنیا کې زموږ نه ، بلکې د خپلو ثابتو قوانینو منونکی دی.

ښه که ته خپله دنیا په خیال او تصور کې جوړوې،نو بیا خو ما تېری وکړ،چې

(c) ketabton.com: The Digital Library

ستا د خیالونو دنیا مې رنګه کړه.

زمرکه له دې فلسفو به تېر شو،غور به وکړو،چې اوس کول څه په کار دي.

په موسکا یې راته وویل : سمه خبره دې وکړه له دې ځایه پښې ویستل په کار دي

زما هم خوښ نه شو،منحوس غوندې ځای دی ما او تا په کې ډزې وکړې خو څه

خېر بلا وه او برکت یې نه و هوایي ډزې وې.زمرک خبرې کولې چې ناڅاپه یې

له خولې ووتل،وزرې خو نه لرو چې والوزو او د ټولو هسکو غرونو ننداره

وکړو،خو پښې لرو چې والوزو او د ټولو هسکو غرونو ننداره وکړو،خو پښې

لرو څه چې د غره سر ته وخېژو دا سیند به له هسکه څه خامخا یو داسې سپین

ښامار ښکاری،چې له ډېره جنونه به یې خوله ځګونه کوي.

خو زه وایم چې د ښامار پر ځای د چندنو نغمې واورو،غوږ شه د پورې غاړې نه

د رباب اواز راځی،مطرب خپل فریاد ته ځومره ښکلې د نغمې جامې اغوستي،څه

چې نن له دې قلندرانه بنډار نه فیض واخلو.

ښه چې راتلو نو له حجرې مې رباب راخسته منع دې کړم او اوس دې د نغمو

ځنځیرونه زړه راکاږي.

د ټوکې به انداز مې ورته وویل ته مې ځکه د رباب له راوړلو ایسار کړې،چې

دروند نه شې،زه خبر اوم،چې په سوات کې ربابونه ډېر دي،. ساړه مو کنګل

(c) ketabton.com: The Digital Library

کوي،ځه چې ورځو زمرک راته وويل که ورځو هم خو څه حل به يې راوباسو.

زمرکه د رحمان بابا ديوان خو راسره نه شته چې په پال پرېکړه وکړو،نوره ستا

خوښه د ګوتو ښکيل راسره کوې او که شير و خط ولو.

ځواب يې راکړ نه اشنا يو کاڼی راواخله او د هغه کمره بيخ کې د ولاړو اوبو منځ

ته يې وله که ځپې يې تر کمره ورسېدې ستا او کنه زما خبره به منې.

ما هم کاڼی راواخيست او اوبو ته مې وويشت ښه وه ځپو يې کمره ته خوله

ورکړه.

زمرک نه بل جواز درلود او نه ځواب.

راسره روان شو،خو بيا هم د خپل شوخ فطرت نه مجبور و ويل يې چل دې

وکړ،خو څه خير دی،ما درته د کاڼي وويل تا د نر زوی هم داسې درغنه

راواخسته چې په عمر به دې نه وه جګه کړې،هسې نه نوم يې درته ويستی وي.

په خندا مې ورته وويل نه زه بيخي روغ رمټ يم،چابک د رباب محفل ته

درځه،په دې خبره ما او هغه دواړه په خندا شو او د رباب بنډار ته ورغلو.

(c) ketabton.com: The Digital Library

بندار ښکلی ؤ کلیوال سیلاني و یو لویه کېږدۍ یې لګولې وه د رباب او منګي غږ په غرونو کې داسې انعکاس کاوه، لکه ټول فطرت چې سندره وايي د کېږدۍ په منځ کې اور بل ؤ او ځنورو زلمو ترې د اتڼ ځنځیر تاو کړی ؤ، حیران خو هغه وخت شوم چې: زمرک رباب په غېږ کې ونیو او یو ځل بیا له سره یې د سوات غرونه له نغمې وپنځول.

بندار پای ته ورسېد د هوټل پر لور رهي شو، زمرک ته مې و ویل: اشنا هره ورځ به دې رباب، رباب کاوه نن مې ومنله چې په زړه کې دې جوش او په ګوتو کې دې کوډې دي، زړه خو مې غواړي چېې پس له ننه دې ادم خان وبولم.

-نه، نه اشنا ډېر پام به کوې زه د وخت له درخانیو وېرېږم بلکې سخت وېرېږم همدا خپل نوم زمرک مې په سر سترګو قبول او منظور دی.

-ښه ماته به رباب را زده کړې؟

-هو خو هله چې درخانۍ پیدا کړې"

-بس داسې وګڼه، چې در مې موندلې او خانۍ ته لا ورځې پاتې دي.

-مطلب دا چې د رباب تنه دې موندلې، خو تارونه ورخېژول یې پاتې دي، خو

(c) ketabton.com: The Digital Library

ګوره کله چې ما د خیال جان استاد نه رباب زده کول پیل کړي و ګوره مې ورته ابښې وه په داسې حال کې چې درخانۍ مې هم نه درلوده، ته خو يې درخانۍ لپاره زده کوې په ګوره کار نه کيږي د شاتو بوتل به راته راوړې.

-بنده ته منظور ده.

-ښه اوس دا راته و وایه: چې د رخانۍ بي بي ده چېرته؟

-دا به درته وایم، خو هله چې رباب را زده کړې.

زمرک موسکی شو ویل څه دا د انتظار غر به هم پر اوړو واخلم، پوره استاذ يې مجبور یم چې اوس زر تر زره درته رباب در زده کړم.

-دا کار خو در په غاړه دی، خو څه چې اوس هوټل ته ځو.

د هوټل کوټې ته چې ورننوتو زمرک په خپل کټ کې وغزېده او ما تلويزون روښانه کړ ایله مې ورسره پام اوختی و چې زمرک په کټ کې اړخ بدل کړ او راغبږ یې کړ:

غزنه وه غزنه ځواب مې ورکړ هن! بیا دې څه په زړه راوګرځېدل؟

-هسې ما ویل چې خوشال بابا پېژنې او کنه؟

-هو څه نا څه خو يې پېژنم، خو دلته د خان موصوف یادولو ته څه اړتیا وه؟

(c) ketabton.com: The Digital Library

-اړتیا دا ده چي دا مهال زه او ته دواړه په سوات کې یو او خان بابا د دې سیمې په اړه د سوات نامې په نامه منظوم کتاب لیکلی دی، یو دوه بیته یې راته یاد دي:

تر کابل نه یې هوا د وړي ښه ده

د کابل هوا ترخه د ده خوږه ده

په هوا کې د کشمیر په آب و رنګ دی

حیف دا چي کشمیر ارت دی سوات تنګ دی

زړګیه! زه چې لومړی ځل سوات ته راتلم د پښتو له ښوونکي مې سوات نامه اخستې وه او د هغه وخت له سواته مې ځان خبر کړی ؤ، پاتې شوه دا خبره چي خوشال بابا د سوات او کشمیر تر منځ ورته والی لیده، نو ما خو کشمیر نه دی لیدلی، خو چې خوشال بابا وایي خامخا به همداسي وي.

-ته یې منه، خو زه د خوشال بابا په جغرافیه پوهنه شک لرم، نه منم چې د سوات هوا دې تر کابله خوږه وي.

ګوره ګیله من کیږه مه، څلور موسمه دي خوشال بابا وایي چې په وړي کې د سوات هوا د کابل له هوا خوږه وي، مانا دا چي په نورو موسمونو کې د کابل هوا په شاتو لړلې وي په دې خبرو زه او زمرک دواړه په خندا شو او بیا مو سره

(c) ketabton.com: The Digital Library

پرېکړه وکړه چي د جغرافيه پوهنې په اړوند په همدې خبرو خبري پای ته ورسو او د خوب جزيرې ته د تللو هڅه وکړو.

خو داسې نه شوه کېدی، د جغرافيې په اړه دومره ډېرو خبرو، ټولګی، د جغرافيې ساعت، ځانګه او د هغې په ترڅ کاته رایاد کړي ؤ، زمرک ویده شو خو زما به د ځو، ځو شپېو لپاره ایله سترګې ورتلې.

سحر شو او غرنيو مرغانو په خپلو نغمو سره د لمر د لومړيو وړانګو هر کلی وکړ، موږ چای وڅکلې د هوټل د پيسو بيل مو ورکړ، بکسونه مو اوږو ته کړل او د پېښور د موټرو اډې ته روان شو. پر لاره مو د شنو غرونو، سيند، مرغانو، ځناورو سيلانيانو او غرنينو وګړيو ننداره کوله، د واورين سوات د غرونو څوکې داسې برېښېدې لکه چې پېغلو ځانونه د سپينو زرو په پړېمانه ګاڼو پسوللي وي. يو ځای موټر ودرېده ماشومانو رامنډې کړې د دنداسې ګېډۍ يې پلورلې زمرک راته و ويل: ”عجيبه ده خلک دلته د مزو لپاره راځي، خو خپل اوسېدونکي يې په بده ورځ دي تر دې چې واړه ماشومان يې په دې ګنګل، ګنګل واورين چاپېريال کې د موټرو پسې د دنداسې ګېډۍ ځغلوي، آخر ولې“؟

ورته مې و ويل ستا د ولې ځواب ښايي د ماضي د حافظې په کوم ګوډ کې خوندي وي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

خو زما په خیال دلته غرونه دي، د کر وړ مځکې لږې دي، له ښاره لرې دی، چې سړی سحر مزدورۍ پسې وځي ماښام راشي، غر د حکومت تر ولکې لاندې دی، خو که خلکو ته وسپارل شي زر به سپیره شي.

زمرک پوښتنه وکړه حکومت هیڅ نه شي کولای؟

-ولې نه خو که دلته کارخانې راشي، ښار راشي فطري او ځنګلي ښکلا له منځه ځي، د سیلانیانو د زړه راښکون لپاره دا خلک همداسې وروسته پاتې ساتل شوي.

دا خلک داسې مثال لري لکه چې په واورو کې وچ کړل شوي وي او د نړۍ د خلکو لپاره ترې موزیم جوړ شوی وي.

بله بېلګه یې نورستان او له غرونو بله غاړه د چترال کافرستان دی، امیر عبدالرحمٰن خان د خپلې واکمنۍ په کلونو کې نورستاني مسلمانان کړل خو بل پلو کافرستان په زړه بنه له خپلو کفري دودونو سره د نړۍ د ننداري لپاره موجود دی.

زمرک پوښتنه وکړه دا ښه کار دی او که بد؟

ما ورته و ویل د کافرستان ساتل د یو مغربي لرغون پېژندونکي په اند ښه کار دی، خو مسلمان مبلغ به یې خامخا غندنه کوي.

زمرک وخندل ته هم عجب استدلال کوې، غوڅه خبره نه کوې چې دا څېز ښه

(c) ketabton.com: The Digital Library

دی او که بد.

-رښتیا هم همداسي ښکاري د اشیاو ارزښت نسبي دی، یو څیز له یوې زاویې ښه او له بلې بد کېدی شي.

له دې خبرو وروسته خاموش شو، نه پوهېږم چې زمرک د خیال په کومه جزیره کې ؤ، خو زما د ذهن محور ځانګه وه، تادي مې وه چې کله به بیا د ځانګې سترګې ګورم.

پېښور ته راورسېدو خپل سامان راسره و او څه ناڅه غرني سوغاتونه مو هم اخیستي ؤ، بار دروند برېښېده، ګاډۍ مو ونیوله د زمرک دوی کور پر لار ؤ، اول هغه کوز شو او بیا څو شېبې وروسته زه خپل کاله ته ورورسېدم. رخصتۍ دوه ورځې پاتې وې هغه هم په انتظار، انتظار تېرې شوې او لیسې ته لاړم.

بیا د استاد له راتلو ترمخه په ټولګي کې شر او شور ؤ خو ماله وروستي کتاره غلې او خوږه سندره اورېده، کټ مټ هاغسې وه لکه د ګلورینې ځانګې په نرمو لوړو ژورو کې چې د سحر د باد له مستانه رقصه پیدا کیږي.

سندره په ختمېدو وه، زرینه رانټوته ځانګه یې ښکل کړه د څو اونیو تږې وه د شونډو بې واکه خرپ یې د ټولګي په شور کې داسې وبرېښېد لکه تنکۍ ځانګه

(c) ketabton.com: The Digital Library

چې د مرغانو د سیل تاب رانه وړي، ماته شي او سندریز غږ یې په شنه ځنګله کې تر لرې، لرې خپور شي.

زرینه او ښانګه ملګرې وې او بیا دواړه نجونې وې خو بیا هم دې ښکلولو زما په زړه کې د رقابت سپرغۍ وشیندلې. نه پوهېدم، چې څه وکړم د تختې خواته لاړم تباشیر مې راواخیست او د غره یو انځور مې وکښه. زه انځور ګر نه وم خو د فطرت سره د مینې له کبله مې د غره د انځور د کښلو لپاره غېر منظم خو پوره ریاضت کړی و. انځور پوره شو او ترې لاندې مې ولکیل "فطرت له جمال او جلاله ډک د خدای (ج) هغه کتاب دی چې د نړۍ د هر نالوستي انسان سترګې یې هم لوستی شي."

دا جمله مې لیکلې وه یو ځل بیا مې لوسته چې د جغرافیې ښوونکې راننوته، غوښتل مې چې تخته بېرته پاکه کړم، خو چې د ښوونکې سترګې مې په کې خښې ولیدې جرات مې ونه کړ نبغ لاړم او په خپله چوکۍ کېناستم. ښوونکې ته انځور او ترې لاندې لیکل شوې جملې خوند ورکړ ستاینه یې وکړه، د غرونو په اړه یې ښایسته اوږده شېبه خبرې وکړې. دا بېله خبره ده چې د غرونو د ښکلایز ارزښت پر ځای یې د هغوی په جغرافیوي او ټولنیز ارزښت ډېر ټینګار وکړ ویل یې غرونه د زلزلو مخه نیسي، کانونه لري، څړ ځایونه لري، ځنګلونه لري او

(c) ketabton.com: The Digital Library

ځنګلونه بیا د میوې باغونه، د ځناورو کورونه، د مرغانو ځالې او نور ډېر څه لري، د باران اورښت ته لاره برابروي او د نېزونو مخه نیسي، خو په ټولو کې یې وروستۍ جملې خوند راکړ، چې ویې ویل: ”غرونه او ځنګلونه د مځکې ګاڼه ده.“

ما د ښوونکې د وینا پر مهال د هغې خبرې اورېدې خو کله، کله به مې ښانګه هم د سترګو له کونجونو څارله ځنې وخت به یې سترګو لکه د غرنیو عقابونو زما په لور ځغلند پرواز کاوه.

د جغرافیې ساعت پای ته ورسېد او استاده ووته، ښانګې ماته رامخ کړ او په لومړي ځل یې راسره داسې خبرې پیل کړې چې نېغ په نېغه یې د درس سره تړاو نه درلود.

” -غزنه غرونه دې ډېر خوښ دي؟ .“

-هو غرونه سیندونه بلکې ټول فطرت مې خوښ دی که غلطي نه کوم نو تاسو د تختې له انځوره دا پر ځای اټکل وکړ ښانګه په خندا شوه ویل یې ”تاسو تېروتۍ زه له پخوا نه پوهېدم چې په غرونو مین یې اریانونکې ده ما خو له تا سره هیڅکله پر دې اړه خبرې نه وې کړې.“

د دې پر ځای چې ښانګه ځواب راکړي نوراني سترګې یې چې نرۍ شرابي

(c) ketabton.com: The Digital Library

موسکا په کې خپره وه زما سترګو سره وجنګولې لاس يې زما کتابونو ته ورتېر کړ او په موسکا يې راته و ويل:

”ستاسو په اجازه.“

زما د جغرافيې کتاب يې راپورته کړ په غور يې وځيره او راته يې و ويل: ”له کومې ورځې راهيسې چې ما ستا په کتاب دا عکس ليدلی نو زړه ته مې پرېوتې چې غرنۍ سيمې دې خوښې دي او ننني انځور ګرۍ خو دې زما يقين د پخلي تر کوره ورساوه.“

زړه مې ولوېد د ځان سره مې و ويل: اخر د معما حل دا راووت تا ماته نه بلکې انځور ته کتل ما د سوچ په درياب کې غوپې وهلې چې څانګې وپوښتلم” د خيال مرغه دې له کومې شنې څوکې نه طوافونه پيل کړل، دا راته و وايه چې دا ښکلی عکس د کومې سيمې دی“.؟

نه داسي هم نه ده د غروو په شنو څوکو سربېره زما د خيال او زړه مرغانو د يو انسان نه هم طوافونه شروع کړي. په دې خبره هغه له حيا نه لکه منه سره شوه زه هم د خپلي خبرې د اغېزې لاندې راغلم او د خبرو سر او تال مې مات شو.

څو شېبې زموږ دواړو سرونه ښکته و. داسي حالت و لکه چې ورته مې سپينه خبره کړې وي. چې څانګې درسره مينه لرم، خو بيا مې خپل شيندلي حواس

(c) ketabton.com: The Digital Library

راټول کړل او ورته مې و ويل: دا عکس چې زما پر کتاب لګېدلی دا زموږ د خپل هيواد يوه ښکلې سيمه ده، دا بدخشان دی.

ما د افغانستان ډېرې غرنۍ سيمې ليدلې دي خو د بدخشان د فطري ښکلا په اړه مې يوازې کيسې اورېدلي او يو څو انځورونه مې ليدلي، نور نو داسې وګڼه چې "شهزاده په نالیدلي مخ مين دی."

څانګې زه د بدخشان غرونه ډېر وخت په خوبونو کې وينم خوله بده مرغه چې خپل منځي اختلافاتو زما لپاره هلته ورتلل د ښاپيريو له کوه قافه هم ستونزمن کړي دي، بويه چې دا هيله به مې کله پوره کيږي. خبره تر همدې ځايه رارسېدلې وه، چې د دري استاد راننوت څانګې په موسکا راته و ويل: (يار زنده صحبت باقي) اوس به د حافظ ژبې ته غوږ شو.

پس له دې ورځې به اکثره وخت ما د کتاب پر ځای د رباب په تارونو او د نغمو په مريو د څانګې يادونه لمانځل.

ډېر ځل مې د زمرک دوی په حجره کې له ماښامه تر سهاره د رباب سره

(c) ketabton.com: The Digital Library

شوګېرې کړې دي خو ښوونځي ته به هم په خوښۍ سره تلم ځکه چي ځانګه به راسره غږېده او له یوې ورځې نه بلې ته نوره هم په زړه راننوته.

په هر بنډار کې مې په زړه ورېده هر چا سره مې ناسته تر جسمه ترلې وه پر روح مې د ځانګې د ښایست سیوری خپور ؤ.

رباب مې د زړه لویه تکیه وه، نغمو به مې ټول وجود سپک کړ، عجب کیفیت ؤ. داسې به برېښېده لکه چې د نغمې سېلۍ مې د مادي وجود ټول ګرد او غبار وړی وي. ټول روح یم ټول سرور، سرور یم، لکه د آسمان د برجونو نوراني کوتره په غېږې مریي وزرونو الوزم او د ابدي سمندر پر سر د ښایست د ورکې جزیرې پر لور پرواز کوم.

کله، کله به مې احساس کاوه چي پېښور کې نه یم د یوه شنه او ځپاند سمندر غاړه ده، باغي موجونه راځي د ځانګې پښو ته تندی رسوي او بېرته ګرځي زه یې د سترګو خاموش طوفان ته له ربابه ژبه په پور اخلم او د سمندر د لافاني سندرې برخه یې ګرځوم هغه چې کاینات یې له ازله تر ابده اوري خو مړیږي پرې نه. د رباب نغمو به زما په وجود کې نه ایره کېدونکی انګار شینده او په غرونو غرونو اتش فشان به اوړېده، بېخي هغسې لکه وحشي سیلۍ چې پر یوه بوټي لګېدلی اور پر ټول ځنګل خپور کړي هغه چې لامده نښتر او وچې ځېرۍ یو شان خپلې

(c) ketabton.com: The Digital Library

غېږې ته راکاږي، لمبه یې آسمان ته خوله ورکوي او له جلاله ډکه سندره وایي.

یوه ورځ چې ښوونځي ته لاړم او د څانګې سترګې مې لکه د بزکشۍ آسونه په مستۍ کې ولیدې، نو پوه شوم چې د صبر واګې مې له واکه په وتو دي. ټوله ورځ نشه، نشه وم روایتي لاره مې غوره وبلله او نیت مې وکړ چې لیک ورته ولیکم خو ویره هم راسره وه، ما ویل هسې نه چې وړاندې تر لوستو مې لیک ونه څیري، خفه نه شي.

که خفه شوه په هر قیمت به یې پخلا کړم خو که لیک مې د "ایمرجنسي" تر سر لیک لاندې راغی ښه به ونه شي، بلکې وبه شرمېږم د "ایمرجنسي" اصطلاح زموږ په ټولګي کې ځانګړې مانا لرله او هر څوک پرې پوهېده. دې وېرونکو اټکلونو هم له خپله هوډه وانه ړولم قلم کاغذ مې راواخیستل او د خط په لیکلو مې داسې پیل وکړ.

زما د وجود پر کایناتو د نغمو خورې ورې څانګې!

د ښایست سر او تال دې مات مه شه

سپین سترګی مې ګڼې او که مطلبي، بې وقوف درته ښکارم او که لېونی ستا خوښه ده، خو زه مجبور یم بلکې بیخي مجبور یم، ستا دې په خپلو نوراني سترګو

(c) ketabton.com: The Digital Library

قسم وي، ستا دې په خپلو وربښمينو سندرو قسم وي زما الفاظ يو ځل ولوله، ايله يو ځل، وايي چې روحونه لکه د وجود سر او تال جوړه پيدا کيږي. يو د بل مينه او تکميل وي، خو فلک غمازي کوي. يو يې په يوه زمانه کې دنيا ته راشي او بل په بله کې، ليده کاته يې ونه شي، زندګي يې زندان شي او يوه ورځ يې د ژوند سقراط د اجل شراب وسکي، بيا نو تر محشره په لحد کې د زړه داغ د انتظار څراغ وګرځوي بيا به څه کيږي (والله علم.(

کله، کله په يوه زمانه کې راشي، خو يو يې د مشرق شي او بل د مغرب، دا ټپه يې انځور ددی:

چي د ديدن نصيب يې نه وي

په يو کوڅه کې سره وړاندې وروسته شينه

خو کله بيا زما نه زرينه پيرزوينه وکړي او دواړه روحونه د يو چم ګاونډ وګړي کړي. ادم او درخو له همدوی نه و.

ته زما له وجوده جدا شوې ځانګه يې، خدای ته وګوره نيمګړی مې مه پرېږده، تکميل راوبخښه، تر ځوابه مې د انتظار چاړه پر زړه خښه وګنه.

غزن-

(c) ketabton.com: The Digital Library

سبا چي ښوونځي ته لاړم، ليک لا زما په جيب کې و، خو پوهېدم چي ساعت په ساعت خپل حواس بيلم کېدی شي حالت مې هغه مجرم ته ورته و چي د پوليسو مرکز ته يې بم وړی وي تفريح ښه موقعه په لاس راغله، اخوا دېخوا مې وکتل دوه درې کسه په ټولګي کې پاتې وو خو خپل نوټونه يې رسول، څانګه او نور زده کوونکي دباندي وتي وو.

ليک خو مې د څانګې د الجبر په کتابچه کې کېښود، خو ماته مځکې ځای نه راکاوه، ايسارېدل راته لويه نفسياتي ستونزه ښکارېده په لنډو ټکو مې د رخصتۍ يوه رقعه وليکله سره د دې چې ټول ښوونکي په اداره کې راغونډ و او دا پوښتنه يې ذهن ته راتله چې زه ولې رخصت اخلم؟ خو رقعه مې له مدير صاحب نه را امضاء کړه، هېچا ته مې ورنه کړه. د حاضرۍ په کتاب کې مې کېښوده او د ليسې دروازې ته مې مخه کړه بيا نو هغه د دروېش دراني خبره:

زه په داسې تلوار و وتم جانانه

لکه خلاص چې څوک بندي شي له زندانه

د اطمنان ساه مې واخيسته او دکور په لور روان شوم په کور کې هم مضطرب وم، ځان ته مې مشغولا کته له ځان سره مې فکر وکړ فلسفه جړه تنسته او لاينحله

(c) ketabton.com: The Digital Library

معما ده کېدی شي چې د څو شپېو لپاره مې په خپله دنیا کې ورک کړي، خو خوند یې رانه کړ، توري ګونګ شوي و، بې مانا تورې کرښې د کاغذ پر سینه غزېدلې وې هېڅ یې نه ویل تلویزون مې روښانه کړ هغه هم د موهومو عکسونو او ګډو وډو آوازونو امتزاج و، رانه هیر دي چې تلویزون مې بند کړ او که روښانه پاتې شو. له کوره و وتلم او د زمرک دوی حجرې ته لاړم، رباب مې له مېخه راکوز کړ، خو ګوتې مې رېږدېدې هېڅ یوې نغمې سر نه نیو، بیرته کور ته راغلم، له پرېشانۍ ډکه شپه راخوره شوه کله وېښ کله وده، خو سحر شو لمونځ مې وکړ، نیمه پیاله چای مي وڅښه، له ځانه سره مې کرل رېبل چې لاړ شم او کنه، څه به راته وایي؟ لیک خو یې حتماً لوستی دی، ځکه چې نن بیا الجبر لرو او پرون معلم کورنی کار هم راکړی و، چې لوستی یې وي څه به یې ویلې وي هسې نه ترپایه یې لوستی نه وي، ټوټه، ټوټه یې نه وي کړی. وه خدایه "ایمرجنسي" نه شي، زړه نا زړه وم، خو توکل مې وکړ ښوونځي ته لاړم او ټولګي ته ننوتم سلام مي واچوه خو د شیندلو حواسو له کبله پوه نه شوم چې چا راته وعلیکم السلام و ویل، څانګه راغلې وه، چې ور ومې کتل په څېره کې یې حیا او حېرت خاموشه ښکلا پنځولې وه. نوراني سترګې یې ښکته وې، د اوربل وېښتان یې بار، بار له تندي راښوېدل او هغې په ارام سره په خپل لاس پورته کول.

(c) ketabton.com: The Digital Library

پوه شوم چي لیک یې لوستی، خو د ځواب اندازه یې راته نه لګېده، مالا په تصور کې د اټکلولو غوټې پرانستې چې پېکۍ د تختې له مخه چغې کړې. (ایمرجنسي، ایمرجنسي، ایمرجنسي) دي سره په ټولګي کې داسې خاموشي خپره شوه چې د استاد په ټینګار هم نه راتله، دا لومړۍ ورځ نه وه د "ایمرجنسي" غبږ به تل له ځانه سره داسې خاموشي راوسته.

پیکۍ و ویل: حسب معمول بیا "ایمرجنسسي" کېس دی یو چاته محبت نامه لیکل شوې ده چي ستاسو پاملرنه ورته را اړول غواړم.

زړه مې درز وکړ له ځانه سره مې و ویل: هماغه څه وشو چې ترې مې ډار درلود تر دولسمه راورسېدم په ایمرجنسي کېس کې نه وم راغلی خو نن ګیر شوم او پوخ ګیر شوم.

لیک د پېکۍ په لاس ؤ، خو د شاګردانو د تلوسې لپاره یې خبره اوږدوله او نه یې لوسته پوښتنې یې کولې، چي دا لیک به چا لیکلی وي او چاته؟ که څوک سم ځواب و وایي: یو خود کار قلم انعام لري، چا شوخي جینۍ آواز ورکړ، زرینې به ښانګې ته لیکلی وي. ښانګه لکه د تصویر ښانګه غلې وه، خو زرینې له وروستني کتاره و ویل:

(c) ketabton.com: The Digital Library

هغه تبر شول چې مې مينه په غلا، غلا کړه

اوس په درست جهان رسوا ده په غلا نه ده

زموږ خبره خو ايمرجنسي نه ده هر څوک پوهيږي چې ځانګه زما ملګرې ده، زمرګ ورته و ويل په ارام کېنه دا لندن نه دی چي له جينۍ سره دې د جينۍ مينه جواز پيدا کړي.

-محترمه ستا له قانوني معلوماتو يوه اروپا مننه، زموږ مينه داسې پرنګۍ هم نه ده چې ته يې انګيرې.

د مشرق تقدس خو هم موږ نجونو ساتلی، ګنې ستاسو زړونه خو به د اروپا په عياشۍ هم ساړه نه شي.

زمرک په دې ځواب پرېشان غوندې شو له زرينې يې بخښنه وغوښته او ورته يې و ويل چې: زما مقصد يوازي او يوازي ټوکه وه، که زه پوهېدی چې ته به پرې خفه کيږې يوه کليمه به مې هم نه وه ويلې، دې خبرو نور هم پرېشانه کړم ځکه چې زرينه د ځانګې ملګرې وه، بله دا چې د هلکانو کردار ته ګوته نيول شوې وه په ټولګي کي لا اټکلونه روان و چې پېکۍ و ويل (Be Quite) غلي شئ، هوايي ډزې مه کوئ، د بې ګناه خلکو پر سرونو پرېوزي، دا محبت نامه د يوولسم ټولګي يو ماډرن مجنون ماته ليکلې ده، نو ځکه يې لوستل هم مناسب نه ګنم.

(c) ketabton.com: The Digital Library

دې خبرې سره مې زړه ښه شو، خو بيا هم پوره آرام نه و، شاګردانو پېکۍ ته چغې کړې نه، نه، نه منو اوس به يې خامخا لولې.

پېکۍ هم شرمېده او هم خندېده.

ويل يې مجنون صاحب په يو پاکټ کې د مادهوري او شاه رخ خان پوسټ کارډ او يو ليک لري د هلک په نوم به حاضر ساعت کانۍ کېږدو خو ليک يې واورئ: "ماى ډارلنګ پېکۍ (I love you) ته زما ډېره خوښه يې، ځکه چې ستا سترګې د کاجل او شونډې د مادهوري دي، که انکار دې وکړ نو د خيبر هسپتال مخې ته چې کوم د اوسپنې هوايي پل دى له هغې نه به هغه مهال سړک ته راټوپ کړم چې د ښوونځي د نجونو موټر تېرېږي پرېږده چې چخپيت مې کړي او که له رخصتۍ نه وروسته د ښوونځي مخې ته د شيرو کاکا له دوکانه د فانټا بوتل واخلې او ويې سکې په ليدو به دې زه وګنم چې ته له ما سره محبت کوې."

زرينې له شوخۍ نه په ډکه لهجه ورغږ کړ د فانتا پيسې يې راليږلي که نه؟ پېکۍ وخندل او د ټوکې په انداز يې و ويل که پيسې يې راليږلې واى ولې به يې کيس ايمرجنسي کېده.

خبرې تر همدې ځايه رارسېدلې وې چې ښوونکۍ راننوت، پېکۍ ترې بخښنه وغوښته او خپلې چوکۍ ته لاړه، ښوونکي هېڅ هم ونه ويل ځکه چې ټول

(c) ketabton.com: The Digital Library

ښوونکي زموږ له شوخۍ نه خبر و، ډېر ځل داسې شوي چې ښوونکی به راغی موږ به چوکۍ یوې ډ ډې ته کړې وې او په ټولګي کې به مو اټڼ کاوه.

ساعت ختم شو ښوونکی و وت او پېکۍ یو ځل بیا د تختې مخې ته ودرېده، لیک او پوستې کارډ یې په لاس کې وو. موږ هیله درلوده چې په لیک کې به څه خبري پاتې وي، اوس به هغه ولولي، خو پېکۍ و ویل چې: بل څه په کې نشته ټیپر ته ورته یو زړه یې رسم کړی، دومره ډېر غشي په کې خښ دي لکه پوځیانو چې پرې "چاند ماري" کړې وي.

پېکۍ دا و ویل: لیک او پوستې کارډ یې ټوټه، ټوټه کړل او له هماغه خپله پاکټه یې ورته تابوت جوړ کړ.

زموږ د ټولګي نجونو ته کله، کله همداسې محبت نامې راتلې خو ټولو ژمنه کړې وه چې د ایمرجنسي په اعلان به یې د ټولو په مخ کې لولي، بیا به یې ټوټه، ټوټه عاشق ته ورلیږي، خو د خدای فضل دی هېڅ عاشق به په لیک کې په ورکړي اخطار وفا نه کوله، نجونو به په خپل دې کار ویاړ کاوه، خو په هلکانو دا خبره ښه نه لګېده کله، کله به یې په ټوکه، ټوکه کې ویل چې نجونې دغه محبت نامې د کورنیو له غړو پټې په تشنابونو کې لولي، که خوند یې ورکړ، خو هماغسې په مینه ځواب ورکوي او که لیک یا شخصیت بې خونده وي، نو بیا یې په ټولګي کې

(c) ketabton.com: The Digital Library

ایمرجنسي کړي او کله، کله به یې د نجونو نه د هلکانو انتقام په بل ډول اخیسته، په خپله به یې ځانونو ته د نجوو له خوا لیکونه لیکل د ایمرجنسي تر عنوان لاندي به یې لوستل او بیا به یې د نجونو په څېر ټوټه، ټوټه کول خو ډېرې نجونې د دوی پر دې چل خبرې وې.

ساعت پسې ساعت تېرېده خو ښانګه خاموشه وه د رخصتۍ زنګ و وهل شو، ښانګې ته مې کتل چي ماته، ماته له ټولګي و وته، زه هم کور ته لاړم.

سره د دې چې د ښانګې په یو دوه خبر نه شوم خو بیا هم له تېرې ورځې نه مې پرېشاني کمه وه ځکه چې د "ایمرجنسي" له شرمه بچ شوی وم.

بل سحر چې ټولګي ته لاړم ښانګه راغلې وه، زما د سلام سره یې ایله یو نظر راوکتل، د یو مرموز سرور احساس یې راکړ، په سپینه منګل یې راپریونې زلفې پورته واړولې او ځان یې د کتاب په لوستلو مشغول کړ، د ورځې په تقسیم اوقات کې جغرافیه هم لیکلې وه خو ښانګې په غلطۍ هم نه راکتل لومړي ساعتونه پای ته ورسېدل تفریح شوه. ښانګه وروستي کتار ته لاړه زرینې سره کېناسته نورې نجونې او هلکان بهر و وتل ما په ځان کې د وتلو تاب نه درلود، ناست پاتې شوم او ځان مې د فزیک د سوالونو په حلولو بوخت کړ، قلم مې په سپین کاغذ ګرځېده خو غوږ مې وروستي کتار ته و، زرینې ښانګې ته و ویل چې نن سبا مړاوې،

(c) ketabton.com: The Digital Library

مړاوي ښکارې کوم نوی باد خو به نه وي را الوتی، څانګې ورته په غلې او سنجيده لهجه و ويل په اسانه ژبه راته و وايه څه ويل غواړې.

زرينه ورته په خندا شوه په اوږه يې ورته لاس واچو او په نرمه او خوږه ژبه يې ورته و ويل: ښکلې څانګې بلکې زما خپلې څانګې، ولې خفه يې؟ ناروغه يې که کوم بد خبر دې اورېدلی؟ څانګه يوه شېبه غلې وه. داسې ښکارېده چې د هغې دا خاموشي به زما زړه هم خاموشه کړي، خو رښتيا ده چې تر ګل نازک انسان کله، کله کاڼي نه هم کلک شي، خبرې بندې شوې ځان مې لږ څه په ډ ډه کړ او د سترګو له کونجونو مې ورکتل، څانګې د زرينې سترګو ته وکتل قلم يې راواخيست سرپوخ يې ترې لرې کړ پر سپين چونه شوي ديوال يې وليکل "ايمرجنسي."

څه، څه اميرجنسي!؟ اخر د دنيا سترګو ته هم وليدې د دې په ځای چې ځان مې ستا په زلفو کې پټوه په کار وه چې ته مې چېرته پټه کړې وای، خو تر کومه به مې پټولې لمر خو په ګوته نه پټيږي خېر، دې ښاپيرک سرسه خو په وروسته ګورو، اوس په تخته يوازې خبرتيا ليکم "ايمرجنسي" زرينه ودرېده خو زما زړه ولوېده، بس قسمت مې مل ؤ، څانګې د لمنې له کونجه ونيوه او ورته يې و ويل: د خدای ومنه مه کوه داسې ولې مې شرموې.

(c) ketabton.com: The Digital Library

زرینه بېرته کېناسته او په شوخۍ سره یې څانګې ته و ویل ښه صاحبې چې راز په راز ساتې نو بیا ځان ولې خفه کوې، چا درته دومره پوخ دام کېښود چې له دواړو پښو په کې ونښتې، دا ماهر ښکاري دی څوک چې په هوا یې درته "ایمرجنسي" دام کېښود او ته یې ونیوې.

د زرینې پوښتنې داسې وې لکه چې: زه ملزم یم او د دعوې وکیلان زما د جرم د اثبات لپاره قاضي ته دلیلونه وايي.

څانګه چپ وه، خو چې څو ځله زرینې ورته اوږه وسکونډله او په خوږه لهجه یې ترې پوښتنه وکړه، ما ورته د سترګو له کونجو ورکتل چې څانګې راته ګوته ونیوله، په زرینې مې هم یو سرسري نظر تېر کړ د غم او خوښۍ ګډ احساس یې په څېره کې وپړکېده.

دواړه څو شېبې غلې پاتې شوې، خو زرینې سکوت مات کړ دې صاحب خو کله د ښایست وجود نه مانه او کله به یې په مینه شک کاوه، واه، واه شیخي څه شوه او هغه فلسفې په کومه لاړې، بیا یې د څانګې لاس په خپلو لاسونو کې ونیوه ا و ترېنه یې پوښتنه وکړه، آیا تاته د هغه مینه منظوره ده؟ څانګه غلې وه او زما پر ژبه د دعا الفاظ ښوېدل، بس حالت مې داسې و لکه مجرم چې قاضي ته مخامخ ولاړ وي، یو خوا خوږه آزادي وي او بله خوا اعدام، خو خبره تر بلې نېټې

(c) ketabton.com: The Digital Library

وځنډېده د ښوونکي سلام د چاپېریال هغه خاموشي ماته کړه. چې د څانګې ځواب ته منتظره وه.

څانګه هم راپاڅېده او په خاموشو قدمونو خپل ځای ته راغله د زنګ په پرله پسې ټنګولو درسي ورځ پای ته ورسېده، د څانګې خاموش ځواب هیله من کړی وم، د رخصتۍ زنګ نه و هغه د حمزه بابا خبره د اسرافیل شپېلۍ وه روغ قیامت یې راوست له څانګې یې بېل کړم کورته لاړم، شپې لکه پیلوځي تېرېدې، سیزونکې وې خو زما د زړه په ژورو ګړنګونو کې یې خوږه نڅا کوله، سبا چې د ښوونځي پر دروازه ورننوتم زرینه راته له مخکې ولاړه وه.

ځان یې سنجیده کړ پر شونډو یې دومره موسکا خپره کړه چې ایله حساس یې کېده ویل یې خانه پرون له رخصتۍ وروسته څانګې ستا لیک راوښود دا د خبرو کوډې دې د همدې لپاره زده کړې وې چې په څانګه یې وکړې، که د الفاظ زور د محبت اثبات شي د بې زبانه مخلوق په مینه به څوک باور وکړي.

-زرینې دا د څو کتابونو ګرځول زما د پوزې پېزوان شو اور ولګه په ادب او فلسفه، زه خو یې په خوند مړوم، د کوډو په نظر مې په عمر نه دي ورکتلي، زرینه موسکۍ شوه خو دا ځل لږه ډېره، ویل یې غل مه نیسه چې غل به تا ونیسي کار دې هم کړی او په الفاظو کې سپرغۍ هم شیندې.

(c) ketabton.com: The Digital Library

ربښتيا يې ويل زه هم لږ جذباتي شوی وم، خو صرف په دې خبره چې زما مينه يې د خبرو استادي ګڼلې وه. دا ځل مې په نرمه لهجه ورته و ويل ګوره زرينې! خير دی هغه ليک به پر ځای پرېږدو ته زما د سترګو خاموش موسيقيت وګوره، آيا د څانګې تصور په کې نه ناځي؟ توري غريبان به زما د زړه خبره څه وکړي، زما مينه سمندر او توري د کلال پيالې، څنګه به يې ظرفيت ولري.

زرينې په کړس، کړس وخندل ويل: "زه مرم له غوچې ته بيا وايې چې غوچې" نوره نه پوهېږم څانګه دې د ځان په لور درکړه کړې ده پخوا راباندې ښه لګېدې، اوس راباندې بد لګې، خو څومره چې راباندې بد لګې هومره راباندې ښه هم لګې.

ورته ومې ويل د لفاظۍ تور په مالګوې او معما ته وايې هم درباندې اوس ښه لګم هم بد.

ويل پوخه استاده ماشوم مه جوړېږه ښه هم راباندې د څانګې له مخه لګې او بد هم ما غوښتل چې خبره پرې بيخي بربنده کړم، خو شوخ يې راوکتل او په تک، تک کې يې و ويل: (عاقلان پی نقطه نگردند.(

زه هم ورپسې غلی، غلی د ټولګي په لور روان شوم، چې ننوتم سترګې مې د څانګې چوکۍ ته وې لکه د برېښنا پړک يې په ځغلند ځلېدونکي نظر راوکتل او

(c) ketabton.com: The Digital Library

سترګې يې دوه مستې توتکۍ وبرېښېدې هغه توتکۍ چې د سرور په وزرونو له شنې څانګې والوزي، په ملاق ملاق تيرې شي خو د خوږې سندرې په څېر يو مرموز خوند د فضا په رګونو کې پرېږدي.

زه هم لاړم او په خپله چوکۍ کېناستم، د ټولګي نګران ښوونکی راننوت د تختې تر څنګ ودرېد او داسې يې خپله وينا پيل کړه.

ګرانو زده کوونکو! تاسو به خبر ياستئ چې کلنيو ازموينو ته مو ايله څو ورځې پاتې دي، سر له سبانه درسونه بند دي، بلکې له نن ورځې يې بند وګڼئ خو اداره هيله لري، چې غير حاضري به نه کوئ، استادان به هم راځي ستاسو مشکلات او ستونزې به هواروي، هڅه وکړئ چې وخت بېځايه تېر نه کړئ، هوښياران وايي چې (وخت لکه سره زر دی) ستاسو د برياليتوب په هيله مو په خدای سپارم، هو رښتيا د ازموينو د مهال وېش پاڼه د ادارې پر دېوال لګېدلې ده کتی يې شئ.

د استاد خبرو ورو، ورو زړه راتنګوه خو ښه وه خبرې يې په لنډو غوڅې کړې، د استاد له وتو سره سم د رخصتۍ زنګ وټنګېده د ليسې په انګړ کې شاګردان ډله، ډله د مهال وېش خواته روان وو او ځينو خو د مهال وېش کتل مناسب نه ګڼل ويل يې بيا به شي، په دومره خوښۍ سره له دروازې وتل لکه له بنده چې وځي، خو زما د قد مو سر او تال مات و، ځکه چې له دولسمه وروسته د څانګې ليدل

(c) ketabton.com: The Digital Library

راته يقيني نه ښکارېدل څانګه هم ماته ماته له زريني سره روانه وه.

د کور په خوا رهي شوم پښې مې پر مځکه وې خو فکرونه مې د شک او يقين په کش مکش و، کله به مې ويل چې له امتحانونو وروسته به مې بيا نظرونه د څانګې په ورېښمين اوربل ونه زانګي بيا به مې ځان ته داړ ورکاوه، کېداى شي چې هغه د پوهنتون لپاره له کلي راشي او سره يو ځاى په يوه څانګه کې داخله واخلو ټوله ورځ او شپه مې د ښکلې ماضي او شکمن مستقبل په سوچو کې تېره کړل،سبا چې ښوونځي ته لاړم څه شاګردان راغلي و او څه په راتلو کې و، څانګه هم راغله، د فزيک ښوونکی راننوت او له شاګردانو يې د هغوی د درسي ستونزو په اړه پوښتنه وکړه، ډېرو شاګردانو ويل لومړی تمرينونه اسان او وروستي ګران دي.

له پايه به د پيل په لور حرکت وکړو، خو څانګې د ټولو مخالفت وکړ ويل يې له پيله به د ستونزو هوارول ښه وي، زه که په الف پوهه نه شم د "ب" ګردان به راته بې ګټې وي، خو بله خوا بغير زما نه ټولو د څانګې مخالفت وکړ. استاد يوه شېبه غلی شو بيا يې د ټولګي د پرانستې دروازې له لارې د ليسې په منځ کې شنه چمن ته وکتل بيا يې شاګردانو ته مخ کړ او ورته وې ويل ستونزه به حل شي د غزن له کورنيو کارونو راته اندازه لګېدلې چې په فزيک کې هم تکړه دی، که څه

(c) ketabton.com: The Digital Library

مشکلات نه لري نو بیا دې غزن او ځانګه خپلې چوکۍ پورته کړي او د چمن په منځ کې د توت سیوري ته دې د ځانګې پوښتنو ته ځواب ورکړي او که کومه ستونزه رامنځ ته شوه، زه همدلته یم.

ماچې د استاد خبره واورېده پر دې خبره مې هیڅ فکر ونه کړ چې زه په وروستیو تمرینونو کې ستونزې لرم او که نه، ودرېدم چوکۍ ته مې لاس کړ او استاد ته مې و ویل زه تیار یم. استاد ځانګې ته هم و ویل چې خپله چوکۍ اوچته کړي او له ما سره چمن ته ووځي زه تر دروازې تللی وم چې شاته مې وکتل ځانګې هم خپله چوکۍ راخسته، زرینې ته مې هم پام ور واوښت په مانا خیزو موسکو سترګو یې زموږ پر خوا راکتل، ما او ځانګې د چمن د اونې سیوري ته مخامخ چوکۍ واچولې، هغې په رېږدېدلو ګوتو د فزیک د کتاب پاڼې اړولې خو هېڅ پوښتنه یې نه کوله، زما سترګې هم ښکته وې او د ښو لاندې مې د هغې د مضطرب پېغلتوب ننداره کوله.

ما سترګې پورته کړې خو هغې لا لاندې کتل، بالاخره یې منورې تورې سترګې راپورته کړې سترګې مو سره وجنګېدې، بل راز کیفیت و، د لومړي ځل لپاره مې حواس له داسې تجربې سره مخ و، په تېره بانه یې لکه په شاتو لړلي غشي زما په زړه راخښېدل ځان راته لکه د افلاطون فلسفه له دې مادي نړۍ نه ماورا د

(c) ketabton.com: The Digital Library

ازل په لاهوتي سيمه کې ښکارېده چې دوه سترګې په کې لکه روښانه توري ځلېدل وخت هم خپله مانا بېللې وه، داسې راته ښکارېدې لکه چې دا سترګې ما ليدلي دي هغه زمان چې کاينات نه و.

خدايزده تر کومه به مو سترګې جنګولې وي خو د ځانګې بانه ښکته شول زه هم څو شېبې غلی وم، زړه مې وغوښتل چې څه و وايم خو الفاظو ترتيب نه مونده خو زړه مې ټينګ کړ او ورو غوندې مې ورته و ويل:

ځانګې باور لرې چې درسره مينه لرم؟ د هغې شونډې لکه د ګلورينې ځانګې په رپېد و شوې ما احساس کاوه چې ساه يې لنډه، لنډه کېده، څو ځله يې ځان ځواب ته جوړ کړ خو جرآت يې ملګرتيا ونه کړه کټ مټ هاغسې لکه وزر غوڅې کوتره چې له برجه د پرواز اراده وکړي، ټيټه پورته شي خو پر ځای ناسته پاتې شي، بالاخره په ډېره ستونزه يې دا جمله له خپلو ګلابي شونډو رابېله کړه:

)با، با، باور نه ايمان لرم.(

په دغه وخت کې يوې ابدي نېکبختۍ زما روح ته خوله ورکړه او يو نه بيانېدونکی سرور يې زما په وجود کې له وېښتو نه تر پښو خپور کړ.

د چمن د غاړې ګلان په نرۍ هوا کې داسې رپېدل لکه زه او ځانګه، د اونې د پاڼو جنګېدو نرۍ نغمه جوړوله لکه زما په خوشبختۍ چې لاسونه پړ کوي. له

(c) ketabton.com: The Digital Library

ځانګې نه مې پوښتنه وکړه چې ولې دې له سندرو لاس واخیست؟ په ټیټو سترګو موسکۍ شوه ویل غزنه، وړاندې خو په ما الفاظ سندره کول، ستا مینې زه ټوله سندره، سندره کړم اوس خو کله، کله زه د خپلو سختو هډوکو او مادي بدن احساس هم نه کوم، بس لکه ستا د مینې له اهنګه چې جوړه یم، ما پخپلو سترګو واوره زه ټوله سندره، سندره یم.

ځانګې ته له اوله سندره وې د ستر شاعر سندره ستا سترګې لکه غبرې مریې الفاظ له ازله زما د زړه په ګنبد کې موزونې غزونې کوي.

زما له داسې خبرو سره به هغه د حیا په اوو پردو کې پټه شوه، د پښتنو مینه چې له سترګو الفاظو ته رسي همداسې کیفیت راځي، موږ خبرې هم کولې او د فزیک د کتاب پاڼې مو هم اړولې، په دې کار سره زموږ هڅه دا وه چې ځوک شک ونه کړي هغه مهال چې د ګلانو سیوري راګرځېدل موږ له ښوونځي راووتو او بېلتون په ببلو لارو د کورونو په خوا ولېږلو، زه په دې ورځ له ډېرې خوشالۍ نه په کایناتو کې نه ځایېدم نغمه، نغمه وم، لارې راته د رباب تارونه ښکارېدل، هر قدم یو مضراب و چې زما روح ته یې پرواز ورکاوه.

(c) ketabton.com: The Digital Library

کور ته ورسېدم کتابونه مې یوې خواته و وېشتل بېرته و وتم او ځان مې د زمرک دوی حجرې ته ورساوه، هغه هم راغلی و کتاب یې لوسته، کتاب مې وربند کړ ویل یې دا پر تا د چا وشوه، کله مې لوست ته هڅوې او کله مې کتاب بندوې د دې پر ځای چې د پوښتنې ځواب یې ورکړم اتڼ مې پیل کړ، هغه راته خندل او ما اتڼ کاوه او ځومره به چې زما په اتڼ کې جوش راته هومره د هغه خندا له واکه وته، تردې چې له خندا نه چپه پروت و او خپل تشي یې نیولي و، آخر له خندا نه ړنګ بنګ راپاڅېد او زه

یې ونیولم ما ځان نه ورکاوه، خو چې راته یې و ویل له خندا به مې مړ کړې پر ځای ودرېدم.

ویل یې ته خوبه که چا بیخي مجبور نه کړې په ډله کې دې هم اتڼ نه کاوه دا نن کومه هوا را الوتې، ورته مې و ویل اشنا ولې به اتڼ نه کوم نن خو ټول کاینات لکه د بنګو پیمانه اتڼ کوي. په خندا یې راته و ویل بنګو ته دې لکه چې لاس واچو ځواب مې ورکړ چې اشنا بنګ مې نه دي سکلي بلکې د تخیل په سیمه مې

(c) ketabton.com: The Digital Library

په جريبونو، بلکې په خرورنو بنګ ټوکېږي راته يې په استفهاميه انداز و ويل نو بيا؟

نو بيا دا چې در مې درخانۍ شوه، هغه خوشاله شو ويل ښه ده غزنه چې ستا د زړه درز کوشير وموند، خو ته هم اوس له ادم خانه کم نه يې خدايزده له کومې ځانګې نه دې شهباز جوړ کړی ؤ، څه چې ځو ښار ته د دې خوښۍ په تحفه کې به درته رباب واخلم، رښتيا هم بازار ته لاړو او رباب يې راته واخيست او بېرته د زمرک دوی حجرې ته راغلو راته يې و ويل زړګيه ما خو درسره کړې ژمنه پوره کړه، رباب دې زده کړ اوس ته ماته وايه چې ستا درخانۍ څوک وه؟

-سمه ده اول به درته يوه نغمه وغږوم بيا به درته درخانۍ وښايم، هغه راسره ومنله او ما هم رباب په غېږ کې ونيو، غوږي مې ورتاو کړل او چې سر يې ونيو نو دا سندره مې په نغمه کې را واړوله:

داګېر چاپېر په غرونو راغله بارانونو ياره

ږلی وريږينه

مه څه دلته شپه وکړه پاتې شه باران دی

(c) ketabton.com: The Digital Library

په نغمه کې دومره ګرم راغلم چې ځان او جهان مې هېر و .

یو وخت مې زمرک لاس ونیو او راته وې ویل ظالمه لږ خو ځان ته پام وکړه له جامو دې خولې څاڅي او د رباب دې هم کار وکړ که پرې ایښی مې وای نو یا خو دې د رباب تارونه شلول او یا د خپل زړه رګونه. رښتیا دا سندره خو به ځانګې هم ډېره زمزمه کوله زړه خو دې هلته ځاله نه ده جوړه کړې!؟

ورته مې وویل اشنا تا د خپلې پوښتنې ځواب خپله وموندہ، هم ځانګه زما درخانۍ ده.

واه غزنه! څه غرنی ګلاب دې انتخاب دی په هر تول پوره ده، هسې د فزیک استاد ته خو به دې هم دعا کړې وي. ومې پوښته چې هغه څنګه؟ راته یې وخندل ویل نن سحر یې څومره ښه موقعه درکړه، ما هم ورسره ومنله او د فزیک ښوونکي ته مې د دنیا او آخرت خوښي وغوښته.

زمرک راته و ویل: زه به د کتاب په کرښو کې ډوب شم اوس ستا او ستا د رباب خوښه آرام کوئ، او که د ماښام ډوډۍ ته ایسارېږې ناوخته و بخښنه مې ترې وغوښته او خپل کور ته لاړم.

بیا نو چې کله لیسې ته لاړم، کله به مې د ځانګې سره په خوله خبرې کولې او کله په سترګو، خو د ازموینو لپاره مو تیاري هم کوله.

(c) ketabton.com: The Digital Library

یوه ورځ یې راته و ویل: غزنه! ایله څو ورځې پاتې دي زه خو به هر کال د اوړي په رخصتیو کې وطن ته تلم خو دا ځل مې زړه درزیږي هسې نه چې پلار مې د بیرته راتلو مخالفت وکړي.

ما ورته و ویل: مه ډارېږه! پلار به دې ولې مخالفت کوي ته خو دلته هم د خپل ورور سره وسېږې.

هغې یو سوړ اسویلی وکړ او وې ویل، دا خبره نه ده د لیسې په دوره کې هم د کلي خلکو زما د پلار په هکله پسپسک کاوه چې پېغله لور یې مکتب وایي! په کلي کې خو بي بي شي غټ ځادر په سر کړي خدای خبر چې پېښور کې څنګه ژوند تېروي؟ زموږ خلک بل راز دي هغوی وایي چې هلک هم پاکولتیي شي نو له اسلامه لاس وینځي او د نجونو لپاره خو د پوهنتون تصور هم نه شي کولای اخر پلار غریب به مې تر کومه په غوږونو کې مالوچ ګرځوي، غزنه زه خو ډېره پرېشانه یم خدایزدده څه به کیږي؟

د ځانګې خبرو خفه کړم، سترګې مي لمدې شوې له ځانه سره مې و ویل اخر تر کومه به موږ داسې یو، کله به زموږ د غرونو په جنګ ځپلو کنډرو کې د دړګیو پر ځای د علم څراغونه روښانه شي، خو بیا مې خپل ځان په کابو کې راوست او ځانګې ته مې داسې ډاډ ورکول پیل کړل:

(c) ketabton.com: The Digital Library

ځانګې مه خفه کېږه، داسې به نه کېږي ستا پلار د ناوړه رواياتو خلاف بغاوت کړی دی، چې ستا د ښوونې روزنې دومره غم يې وخوړ خامخا به دې پوهنتون ته هم راپرېږدي. خو دا راته و وايه چې پوهنځی به کوم انتخابوې؟ ته و وايه ته به کوم پوهنځی انتخباوې؟ ما ورته و ويل زه خو ستا مينې د سندرو، خبرو او رباب سره اشنا کړم ادبيات به و وايم.

-که د زړه خبره درته وکړم زما هم ادبيات خوښ دي د ادبياتو د ښوونکي دا خبره مې په زړه لګېدلې چې (ادب د ژوند تفسير او د هغې د بدلون لپاره وسله او استدلال دی) زما همدغه هڅه ده چې ژبه او استدلال زده کړم چې په ټولنه کې کره او کوټه خبرې او روايتونه بېل شي نو بيا به بدلون هم امکان پيدا کړي ګنې ګمان مې نه شي چې زموږ د پرمختګ دا وړی شړی شي.

خو رښتيا دا راته و وايه چې رباب دې د څه لپاره زده کړ؟.

په موسکا مې ورته و ويل په رباب کې مې تا پسې وير کاوه دا لنډۍ دې نه ده اورېدلې:

رباب زما په غېږ کې راکړه

زه مې د خپلې ځوانۍ وير په کې کومه

(c) ketabton.com: The Digital Library

-غزنه اوس هم وير کوې؟

-نه اوس خوشاله يم.

-نو بيا ولې راته د وير لنډۍ وايې؟

-ښه غوږ شه بله درته وايم:

خدای دې زما د غېږ رباب کړه

چې اننګي دې لکه غوږ.ي تاوومه

لنډۍ مې و ويله خو سملاسي پرې پښېمانه شوم هېڅ نه شو کېدی اوبه له ورخه تېرې وې، څانګه له حيا نه لکه مڼه سره شوې وه ، اوږده بانه يې ښکته کړل او غلې شوه.

څو شېبې مانه هم د خبرو چل هېر شو خو بيا مې د لنډۍ د اغېزې د پټولو په نيت ورته و ويل: رښتيا له ازموينو وروسته به په لېسه کې د کانکوور کورسونه پيليږي، ته ورته ايساربږ.ې او که وطن ته به ځې؟.

خبرې يې پيل کړې خو په لهجه کې يې د لنډۍ نه د را پيدا شوې حيا رنګ محسوسېده. ويل يې نه ورور مې د ازموينو نېټه پلار ته ليږ.لې ده راځي به زه نه شم ايسارېدی. البته کتابونه او نوټونه به له ځانه سره يوسم که پلار مې د لوړو

(c) ketabton.com: The Digital Library

زده کړو لپاره قانع کړای شو تیاري به هم وکړم او کانکور ته به هم ځان راورسوم امتحانونه راغله او تېر شول د خدای فضل و، زه څانګه او زمرک په ښو نمرو بریالي شو.

د نتایجو په ورځ مدیر صاحب ټول زده کوونکي په کتاب ودرول او وې ویل: (د دولسم ټولګي د زده کووکو لپاره مېلمستیا ترتیبوو، د لېسې ټولو شاګردانو ته بلنه ورکو، د بري لیکونو ورکړه او یوه سټېج ډرامګۍ د غونډې برخې دي. خو چای شربت او ځیني نور څه به هم وي، هیله من یم سبا به راتلل نه هېروئ. والسلام(

د مدیر صاحب په بلنه سبا ډېر شمېر شاګردان لیسې ته راغلي وو، بلکې د څو تنو ناکامانو او هغو شاګردانو سربېره، چي د سخت رقابت په پایله کې یې خپله نمره بایللې وه ټول راغلي و.

لومړی شاګردانو یوه ډرامګۍ سټیج کړه چې پر افغانستان د جنګ د ناوړه اغېزو ځغلنده ا نځور ګري یې کوله، بیا مدیر صاحب سټیج ته راغی، د لیسې پر کلنیو هڅو او کارونو یې رڼا واچوله بریالیو زده کوونکو ته یې بري لیکونه ورکړل او نور یې لیک او لوست ته وهڅول، بیا تفریح ته ورته فضا جوړه شوه د سټیج مخې ته هیڅوک نه و ملازمینو چای، شربت و وېشه وروسته اناونسر د سټیج شاته څرګند شو او د لاډسپیکر د مایک په ټنګولو یې د شاګردانو پام د ځان پر لور کړ.

(c) ketabton.com: The Digital Library

وې ویل تاسو ټولو ته معلومه ده چې په داسې موقعو زمرک د خپل ځان سره رباب راوړي، داسې ښکاري چې نن به په وروستي ځل د هغه نغمې زموږ د لیسې له انګړه پورته شي ځکه چې هغه فارغ شو پوهنتون ته به ځي. په هر حال زموږ له ګوتو ووت، زه بلنه ورکوم هیله ده. چې په ارام ډول او د زړه په غوږونو به یې واورئ.(

په ستیج درئ غوړېدلې وه، اناونسر میک ورښکته کړ زمرک هم ورغی، رباب ته یې ګوته واچوله، داسې رباب یې وغږوه چې پخوا یې په لیسه کې نه و غږولی او ولې به یې نه غږوه په لیسه کې یې وروستی رباب و ټول استادان او زده کوونکي داسې غلي او حیران و لکه بتان، هغه بتان لکه چې یوه زمانه یې د دې رباب نغمو ته انتظار کړی وي.

اونو، بوټو او ګلانو ورسره لکه ماهر نڅاګر په منظم سر او تال رقص کاوه،وڅو په زړ پورې نغمې یې وغږولې او بیا یې رباب غږول بس کړل، ما یک ته یې خوله ورنږدې کړه او ویې ویل، درنو حاضرینو زما رباب خو مو ډېر اورېدلی، زما یوه ملګري اوس اوس رباب زده کړی، هغه به په دې وروستۍ غونډه کې د لومړي ځل لپاره رباب وغږوي. غږن ته بلنه ورکوم چې ستېج ته راشي زما د نوم په اورېدو د زده کوونکو تر منځ کونګوسې پیل شوې، یو تر بله یې ویل

(c) ketabton.com: The Digital Library

غزن! غزن!؟ غزن او رباب؟ زمرک بیا بلنه راکړه جرات راته ګران و. خو د زمرک او نورو ټینګار اړ کړم چي یوه نغمه وغږوم.

هماغه نغمه:

دا ګېر چاپېر په غرونو راغله بارانونه یاره

ږلۍ وریږینه

مه ځه دلته شپه وکړه پاتې شه باران دی

چې له ستیجه راکوزیدم نغمه مې په ذهن کې کړنګېده او خورو وروحواسو مې ورسره د شاګردانو د لاسونو پړکا یو ځای کوله. له کومې خوا مې د زرینې آواز هم اورېده. چې ویې ویل: "ته خو په ساده کې تیله دار وختې" خو زما په هواره ځمکه پېښې ښوېدې بارانونه نه و راغلي خو چې د ځانګې ځنګ ته ورسېدم ښو پورې یې دوه سپینې ځلېدونکې اوښکې نښتې وې، تر ناوخته په لېسه کې وو.

ځانګې او زرینې راسره مخه ښه وکړه زما سترګې هم د ځانګې په شان لمدې شوې.

په تلو، تلو کې ځانګه لکه د ګلو لښته کږه شوه په سرو سترګو یې راوکتل، زما د نظر غېر مریي لاسوو یې ډېره لمنه ونیوه، خو د بېلتون لاسونه ډېر زورور و، د

(c) ketabton.com: The Digital Library

زېړ لمر په وړانګو کې هغه يو زرينه مجسمه ښکارېده، زما نظرونو يې تر هغې پېښو ته ځان غورزوه چې پناه شوه.

زما ځانګه د بېلتون سېلۍ يوړه، زما ښکلې ځانګه زما ګلورينه ځانګه، او زه! زه لکه خزان وهلې ونه پاتې شوم، د خوږو نغمو مرغۍ والوتې يوازې سپېرو سيليو زما په وجود کې ويرونکی ساز غږاوه. زما سترګو ځانګه بېللې وه، ټول کاينات راته نااميده جوارګر ښکارېدل، لکه چې قمار يې وهلی وي، لکه چې ښايست يې بېللی وي، لکه خپل ټول رنګ و نور يې چې له لاسه ورکړی وي، بېخي بل راز شوی وم د ژوندي لاش کليمه راته د ډرامو او ناولونو يوه مړه اصطلاح ښکارېده، خو د ځانګې له تلو وروسته وپوهېدم، چې ژوندی لاش هم وي.

د کانکور کورسونه هم پيل شول زه او زمرک هم ورتلو خو زما ذهن به لږ وخت په ټولګي کې او ډېر وخت بل ځای و. هغه ځای چې لامې د سر په سترګو نه و ليدلی، د ځانګې په کلي کې به وم هغې ماته ايله همدومره ويلي و چې د سپين غره په لمنو کې وسېږي.

ما به په خيال کې ځانګه جوړوله، غره ته به ځي، په نرۍ ملا به درانه منګي په سر وي شوخې غرنۍ نجونې به يې چېړي تنګوي به يې خو چې هغه به خاندي او که خفه به وي ځانګه پوهېده چې غرونه مې خوښ دي، هغه به زما تصور

(c) ketabton.com: The Digital Library

چېرته، چېرته ګرځوي د بزرګې څوکې سرته به مې خېژوي، ابشارونه به راباندې اوري، د نښترو په څانګو کې به راسره زانګي او د چینې اوبه به راباندي شیندي.

د کانکور کورس هم په ختمېدو شو وروستۍ ورځ وه له زرینې نه مې پوښتنه وکړه: څانګه نه ده راغلې له احواله یې خبره یې؟.

هغه خوشاله نه ښکارېده، زما له پوښتنې سره یې په څېره کې نور خپګان هم خپور شو، هغه پخوانۍ شوخي یې نه وه سر یې ټیټ کړ ویې ویل غزنه د ورور کور ته یې ورغلې وم، څانګه نه وه راغلې او د ورور په خبرو کې یې هم د هغې د راتلو د امید توري نه وو، داسې نه ښکاري چې د څانګې کورنۍ به هغه لوړو زده کړو ته پرېږدي.

د زرینې خبرو په چرتونو کې لاهو کړم هوډ مې وکړ چې څانګې ته د زرینې له خوا یو لیک ولیکم او موقعه یې هم وه، د ګرمۍ موسم و، بهر باران په ورېدو و، ټول شاګردان یې د ننداري لپاره برنډې ته وتلي و، ما لیک د زرینې له خوا پیل کړ دا دوه رنګي زما فطرت نه، بلکې مجبوریت و.

کلیوالې جینۍ ته د هلک له خوا لیک لیکل، داسې جرم و چې د څانګې د مرګ سبب هم ګرځېدی شو نو ځکه مې د زرینې د نوم په تکیه دا کار کاوه، بیا هم ځان

(c) ketabton.com: The Digital Library

راته ښه نه ښکارېده خو له ځان سره مې و ویل زه خو دا کار په پټه نه کوم زرینه به هم خبروم ترې، لیک خو به هم هغه د ځانګې ورور ته سپاري، د لیک بل جواز مې دا ګاڼه چې د ځانګې پلار ته به هم څو خبرې ولیکم ګوندې ځانګه لوړو زده کړو ته پرېږدي.

یوه به مې جمله لیکله یو ځل به په فکرونو کې ډوبېدم لیک به مې نیم ته رسولی و چې باران زور واخیست زمرک له کړکۍ نه اواز راکړ وه غزنه دباندي راوځه ډېر ښکلی باران دی او باد خو ترې لکه د استاد مطرب پستې نغمې راوباسي.

ما ورته وویل اشنا بس ته ولاړ اوسه زما په ځای هم نغمې واوره زه نه شم دروتی.

ځواب یې راکړ راوځه ګنې زه درپسې درځم، پوه شوم چې نه یې مني برنډې ته ورووتم رښتیا هم ښه شېبه وه، ونې بوټې یې په سندرو راوستي وو خو زما زړه له خپل نیمګړي لیک سره و څو شېبې ولاړ اوم ، بیا مې د زمرک زنې ته لاس وروړ او ورته مې و ویل ته له بارانه خوند اخله یوه ضروري لیکنه مې نیمګړې پاتې ده. بس چې پوره شي بېرته راوځم، ښه و راسره یې ومنله د ټولګي په دروازه چې ورننوتم د سترګو په رپ کې مې حواس بدل شو د ځانګې د راتلو ورځ را په یاد شوه.

(c) ketabton.com: The Digital Library

د ټولګي د شاګردانو شور او شوخي مې پر زړه راووربېده دا ځکه چې د ټولګي چت ځو ځایه په ځځېدو و، خونه ځانګه لکه لمده کوتره د لومړي ځل لپاره زموږ ټولګي ته راغلې وه او نه شوخې نجونې چترۍ په سر د کوټې ترچت لاندې ګرځېدې.

له ټولګي مي بېخې کرکه وشوه، که کتابونه او لیک مې نه وای خامخا به ترې بېرته وتلم خو چې چوکۍ ته ورسېدم لکه ټول چت چې راباندي پرېوتی وي هغه ځه شوي و چې ما يې توقع هم نه لرله. په کتابونو مې کوټه ځځېدلې وه او نیمګړی لیک له منځه تللی و په رپاندو لاسونو مې کتابچې راواخیستې په مخامخ دېوال مې سترګې ولګېدې د ځانګې لیک هماغسې تازه و "ایمرجنسي" وپوهېدم چې په لیسه کې پاتې کېدل بې ګټې، بلکې ستونزمن دي، غریو نیولی وم، حواس مې پوره په کنټرول کې نه و، ټول بدن مې لکه پاڼه په رپېدو و او په هر قدم مې د پرېوتو ویره وه، ځانګه نه وه، خو سندرې يې زما په مغزو کې قیامت جوړ کړی و:

دا ګېر چاپېر په غرونو راغله بارانونه یاره

ږلی وریږینه

مه ځه دلته شپه وکړه پاتې شه باران دی

(c) ketabton.com: The Digital Library

بالاخره د کانکور امتحان هم راورسېد ورمو کړ زه و زمرک ادبیاتو ته لاړو او زرینه رانه د طب په لور بېله شوه.

پووهنځي ته مې تلل پیل کړل، خو حالت مې له یوې ورځې نه بلې ته په خرابېدو و، ذهني تمرکز مې له لاسه ورکړی و، د استادانو درسونو ته مې پام او توجه نه شوه کولای، که استاد رانه سمدلاسه د خپل تشریح کړي درس پوښتنه کړې وای په ځواب کې به یې لکه بې حسه بت خاموش پاتې شوی وم، ایله یو تن استاد داسې و چې زما باغي پام به یې رام کاوه او هغه ځکه چې د مینې او ښکلا قدردان و ټول کاینات یې پر همدې محور ګرځول خو کله، کله به مې د هغه خبرو ته هم پام نه و، یوه ورځ زمرک د پوهنتون کانتین ته بوتلم او راته یې و ویل د ځانګې بېلتون لکه کمان په ملا کوږ کړې، هېرولی یې نه شې؟.

په حېرت سره مې ورته و ویل: ځانګه هېرول، ایله خو یې د یادولو وخت راغی، ایله خو وپوهېدم چې ځانګه څنګه وه او څوک وه؟.

زمرک راته و ویل محصل د ادب یې او ګرځوې د فلسفلې کتابونه ځکه خو دې دا حال دی آیا ځانګه وروستۍ جینۍ وه نورې کمې دي، (و وایه چې څومره مشتري درته پیدا کړم.(

مننه! خو ځنې ښایستونه له حساب کتاب نه بهر وي. لومړی هم وي او وروستي

(c) ketabton.com: The Digital Library

هم زما لپاره ځانګه همداسې ده بلکه دا چې هغې د پوهنتون ارمان درلود، داسې که هر غزن خپله ځانګه پرېږدي د بې وسۍ دا ګراف به خورا لوړ لاړ شي.

عجیبه ده زموږ خلک د زوی د زده کړو لپاره د پلار نیکه هډوکي پلوري، مځکې خرڅوي خو د لور تعلیم شرم ګڼي او ځیني خو مې داسې هم لیدلي چې د زده کړې لومړی ګام د کفر په لور ګڼي زه بیخي حېران یم دا خلک به کله له تعلیم سره اشنا کیږي او د حافظې پر تخته به کله دا جمله لیکي چې ښځه هم انسان دی، خو زمرکه زما دا استدلال عام دی په خاص ډول هغه زما معشوقه ده، مین یم پرې هجران یې اور دی سیځي مې ایره کوي مې او بیا زه خو مجبور یم د خپل تقدیر او فطرت په لاسونو کې ګیر یم، د خوشال خان بابا دا شعر سمه خبره لري:

زه خو شرابي یم شېخه څه راسره جنګ کړې

برخې ازلي دي کاشکې ما د ځان په رنګ کړې

له دې وروسته زمرک هېڅ ونه ویل، څو شېبې غلی و، بیا یې ساعت ته وکتل ویل یې ټولګي ته د تلو وخت دی وربه شو ما هم ورسره خوښه کړه کانتین والا ته مو پیسې ورکړې او د ټولګي په لور مو مخه کړه.

سبا چې زمرک ولیدم بیا یې کانتین ته بوتلم ویل یې څه مې درته راوړي ومې

(c) ketabton.com: The Digital Library

پوښته چې څه دي؟ ويل يې که درته ياد وي ما په سوات کې درته د چا نوم

اخيستی و، نومونه خو ډېر و خو يو په کې د ياد ساتلو وړ نوم و، مالا غور کاوه

چې راته يې وويل: بس دی په حافظه زور اچول درته ښه نه دي دا يې وويل: او

له يوې کاغذي خلطې يې د خوشال خان خټک ديوان راوويست، ښايي تا دا کتاب

لوستی وي خو زه يې درته ډالۍ کوم ويې لوله ساعت به دې ورسره تېر شي. زه

هم په دې ډالۍ خوښ شوم، کتاب مې ترې واخيست او د کانتين نه و وتو.

بله ورځ زمرک په يوه خالي ساعت کې راته و ويل څنګه و خوشال بابا؟.

زه لږ غلی شوم ورته مې و ويل: ځانګې، ځانګې و، د هغه باز او شاهين پر سپين

غره وزرې راکاږي د ځانګې پر وطن، په ځلانده توره کې يې هم د ځانګې ځېره

ښکاري، څه به درته وايم د خوشال ديوان دزړه د مينې لپاره غوړ لرګی دی لامې

پسې اور تازه کوي خو د ټولو نه ښه خبره چې خوشال بابا کړې ده هغه دا چې:

هر چې خوږ د ښکلي مخ په مينه نه وي

د جهان په مخ اوده راغی اوده لاړ

زمرک وخندل ويل يې په خوب کې هم سړی د ښکلي مخ په مينه خوږېدی شي(په

تورو، تورو شپو کې زه رنګين خوبونه وينمه) ته مې نه ګورې چې په ليليه کې

(c) ketabton.com: The Digital Library

سحر له خوبه راپاڅم سترګې مې لمدې وي همدغه اوښکې وي. دا د مينې يو مکتب دی چې سر لاري يې د سلطان محود لټان دي.

هغه دا خبره وکړه خو چې ماته يې پام شو په بله دنيا کې ورته ښکاره شوم راغی تر څنګه مې کېناست زما لاس يې په خپل لاس کې ونيو ويل يې ولې زما په کومه خبره خفه شوې؟ ما ورته وويل تا د اوښکو يادونه وکړه د معشوقې بېلتون هم عجيبه وي د اوږده انقلاب غميزو ته لکه غر ولاړم وم خو بېګاه مې اوښکې وڅڅېدې په څانګې پسې، خو خفه پرې نه يم اوښکې زما د مادي وجود برخه ده، څومره يې چې له لاسه ورکوم هومره مې ورسره روح پياوړی کيږي.

زمرک راته و ويل زموږ نړۍ مادي ده، دلته به د مادي وجود هم قدر کوې زما طبيعت بحث ته نه و برابر، نو ځکه مې ورته و ويل ستا خبره سمه ده، خو هغه په موسکا کې راته و ويل، لکه چې دې خبرې مې فلسفيانه رنګ درلود، ځکه دې خوښه کړه. يوازې همدومره مې ورته وويل چې کېدی شي، دواړه موسکي شو او ليليې ته لاړو.

(c) ketabton.com: The Digital Library

ليليې ته به زه او زمرک ډېر ځله يو ځای تلو. يوه ورځ يې راته و ويل غزنه ډېر بدل شوې، دومره بدل شوې چې اوس دې زه هم نه شم بدلولی، خو يو بدلون درکې رانغې او هغه د بدخشان د تصوير سره مينه ده، په لېسه کې دې هم پر کتاب لګولی و او اوس په پوهنتون کې دې هم په کتاب لګولی دی، ومې پوښته چې ګنې دا ښه نه دی ويل يې ښه دی، خو ډېره به ښه وای که د کومې پېښتنې سيمې انځور دې پر کتاب لګولی وای.

ما ورته و ويل چې: ما د افغانستان ډېري سيمي ليدلي، بدخشان لا پاتې دی بس په انځورونو يې مينه ماتوم، ته خو تعليم يافته يې سترګور يې داسې خبرې دې د وينا راښکون کموي. که افغانستان باغ بولې، ګلان به يې خامخا اقوام وي، بله دا چې د باغ ښادي هم يوه وي او غم يې هم، په سپرلي کې وغوړيږي او په خزان کې مړاوي شي، يو سرحد ترې تاو وي او له يوې ويالې اوبه سکي که د هر ګل رنګ

(c) ketabton.com: The Digital Library

بوی بدل دی، نو دغه بدلون او تغییر هم د نورو ګلانو وجود ورکړی، که یوازې په صحرا کې وې له چا سره به یې ځان پرتله کاوه ځنګه به یې د پېغلې په اوربل زنګل او ځنګه به شملې ته خاته، زمرکه په یو ګل نه پسرلی کیږي.

ځکه خوشال بابا وايي:

د سحر باده ګزر په چمن بیا کړه

په چمن کې رنګا رنګ ګلونه واکړه

زمرکه ستا نشنلزم غېر فطري دی او چې غیر فطري دی د ګټې پر ځای به تاوان ولري.

زمرک موسکی شو، ویې ویل: زما نشنلزم غېر فطري صحیح، فطري خو ته هم منې؟ ما ورته و ویل: د قام مینه په لاشعور کې ده نسل په نسل راځي، د قام هومره لرغونتوب لري که په "وحي" پرېکړه کوي. محمد"ص" ویاړي چې قریش دی او که په عقل یې فیصله کوي افلاطون ویاړي چې یونانی دی زه هم مسلمان انسان یم، همداسې یم که پښتون خوښوم له بله قامه به نفرت ولې کوم. بس همدومره قام خوښوم چې بدخشان مې خوښ دی له ننګرهار سره عشق لرم.

زمرک پوښتنه وکړه او که یو قام پر بل تېری وکړي ظالم قام باید ختم نشي؟ نه

(c) ketabton.com: The Digital Library

زمرکه په قام کې ځوانان، سپین ږیري، ماشومان، ښځې، بلکې په رحمونو کې ویده ماشومان هم راځي. د ټولو تېری کول د فطرت قانون نه دی، که بېځایه تېری کوي هغه به د یو مقصد لپاره راغونډ شوي اشخاص وي، هغوی سره جګړه په کار ده د یوه هېواد د دننه د قامونو جنګ یو فطري او رېښتونی عمل نه، بلکې د سیاسي جادوګرو سیاسي کوډې دي زمرک راته و ویل ته خو بدلون نه منې، خو ما دې دا استدلال د زړه له تله ومانه.

زمرکه زه انسان یم کاڼی نه یم هره شېبه بدلېږم د کایناتو بدلون منم، خو د خیر بدلون نه منم، ځکه چې خیر مینه ده ا و مینه زما ځانګه ده.

ورځې تېرېدې خو خپله معشوقه مې لکه ځانګې، ځانګې ارغوان د زړه له درزه لاپسې په غځېدو او خورېدو وه. د رباب په تارونو او د فلسفې په کرښو کې مې ځان ورکول خپله مشغولا جوړوله، خو ځای یې نه راکاوه بیخي هغسې لکه چې سیندونه مړه جسدونه له تله سرته ولي. له یوې ورځې نه مې بلې ته ذهني فشار او د غړو سستوالی په ډېرېدو شو، خوب او خوراک مې بېخي کم شو. بس همدې غم خوړم چې د زړه مېوه داره ځانګه مې د بېلتون سیلۍ یوړه، په دماغو مې څه چل کېده، د بدن په بېلا بېلو برخو کې مې دردونه پېدا شول، ساه مې بنده، بنده کېده،

(c) ketabton.com: The Digital Library

بالاخره د کتټ يې کړم، خو له خياله مې نه وته د خاطر دا مصرعه به ډېره رايادېده چې (زما د واړه عمر کار دې وکړ) خبره ډاکټرانو، معايناتو، عکسونو، علاجونو او دواګانو ته ورسېده، بس هغه خبره وه چې:

هلک مين شو رنګ يې زېړ شو

مورې يې زيړي بابا ته وړي چې روغ به شينه

يوه ورځ زمرک سره هغه ډاکټر ته لاړم چې له پېله مو غوره کړی و. څه نا څه مې ورته حالت څرګند شوی و، معاينه يې کړم، زړې نسخې يې په غور وکتې، نوي درمل يې راته وليکل ماته يې مخ کړ او راته يې و ويل په ذهن دې ډېر بوج دې ويې غورزوه ډېر فکر مه کوه.

زه ورته موسکی شوم نور مې ورته هېڅ ونه ويل، له ځان سره مې ويل! څنګه له سوچونو فکرونو ځان وژغورم د دې نيلي واګې اوس زما له ګوتو وتې دي ګورو به چې چېرته ترې پرېوځم.

ډاکتر زمرک ته ورمخ کړ او ويې پوښته ته د غزن څه يې؟

-ډاکټر صاحب له دېرو کلونو راهيسې مې نزدې ملګری دی. ډاکټر سر وخوزوه په لاسونو يې خپلې عينکې سمې کړې او له زمرکه يې دويمه پوښتنه وکړه (د

(c) ketabton.com: The Digital Library

غزن شوقونه څه دي؟) هغه ورته و ویل ډاکټر صاحب اوس خو يې همدغه یو شوق دی سوچونه کول، ډاکټر وخندل او وې ویل له دې شوقه وړاندې يې د څه شوق درلود؟.

-ډاکټر صاحب وړاندې له دې يې کتاب، رباب او غرونو سره شوق و او یو بل زورور شوق يې هم درلود. ډاکټر و ویل: زه وپوهېدم، د کورنۍ له غړو سره يې خبرې وکړه ته يې نزدې ملګری يې ښه به همدا وي چې د رباب او کتاب سره دوه په دوه د کومې غرنۍ سیمې سیل ته لاړ شئ ګوندې دا تجربه يې په روغتیا ګټوره اغېزه وکړي.

له کلینکه راووتو زمرک همدا ټینګار کاوه چې سیل ته به ځو زه او ته خو ډېر تللي یو خو دا ځل تلل ډېر اهمیت لري، ستا د درملو هومره اهمیت. ما ورته و ویل: هر څه بې ګټې دي ځانګه نه شته له هرې منظرې نه ساه وتلې ده. په کوم ځیز به مې له ځانګې لرې باسې چې په هر ځیز کې ځانګه وي، د روغتون تنګه کوټه وي او که د بزرګې ځوکې لمنه، دواړه به راته یو راز وي، په دې خبره مې زمرک موسکی شو ویل يې بزرګه ځوکه بزرګه ځوکه ده، خامخا د چا د کلي هوا ګاني پرې لګي.

دې خبرې او شاعرانه استدلال بلا خوند راکړ، لاځوابه يې کړم پر شونډو مې

(c) ketabton.com: The Digital Library

ډېرې ورځې پس تته موسکا خپره شوه.

زمرک چې زما پر شوډو موسکا ولیده په څېره کې یې د خوښۍ احساس وځلېد، پوه شو چې خبره مې ورسره ومنله، یو لاس یې زما پر ولې کېښود او بل یې هوا ته پورته کړ له خوښۍ نه یې چغه کړه دغسې دا ادا دې ښه وه، دا عادت دی د ادم خان نه و، زما د ملګري غزن غوندې پرېکړه دې وکړه، بیا سره بېل شو او کورونو ته لاړو. مشران او د کور غړي مې د ډاکټر له وینا نه خبر کړل، ټولو دا خبره خوښه کړه، د اړتیا وړ څیزونه مې د سفر په بکس کې واچول مازیګر تېر دروازه وټکېده، چې پته ولګېده زمرک و، ور ووتم له سترې مشي وروسته مې بلنه ورکړه چې په بیټک کې کېنو، بخښنه یې وغوښته ویل یې په کور کې مې خبره وکړه ځم تیارۍ کوم سبا سحر به د ګاډۍ سره درته د کور مخې ته ولاړ یم. ما ورته و ویل زه خو به تیار یم، خو دا راته و وایه چې ځو به چېرته؟ هغه په خندا شو ویل یې د ځای انتخاب خو مو پخوا کړی و، د رباب له ترنګه خو څه جوړ نه شو، اوس به دربانډې د "میاعلي صاحب" د ځنځیرونو شرنګا اورم او یا به د سپین غره د بزرګې څوکې لمن نیسو ګوندې کرامت یې دربانډي کار وکړي، په دې خبره یې خندا راوسته او ورسره مې ومنله.

(c) ketabton.com: The Digital Library

شپه تېره شوه، سحر شو رښتيا هم زمرک د ګاډئ سره راغی او ننګرهار ته د تلو پـه نيت روان شو، زمرک راته و ويل په "تورخم" نه اوړو، چې د غرونو ننداره مو موخه ده ولې په تيراه لاړ نه شو لارې يې ستونزمنې دي، خو څه خير دی کچرې شته ما ورته د ټوکې په انداز و ويل که کچرې نه وي نو بيا، ويې خندل ويل يې ما هم د ډېرو غرونو لوړې ژورې له پښو ويستي، غم مه کوه په شادۍ پر غره اړوم، د ګاډئ د اسپې د موزونو قدمونو د ښکالو د سر او تال په خوند کې د موټرو اډې ته ورسېدو، سيټ مو ونيو څو شېبې پس موټر حرکت وکړ، لږ وخت پس فلاينګ کوچ موټر د خړ خيبر په کږ لېچونو کې روان و، زمرک مې د خيال لړئ غوڅه کړه او راته يې و ويل: خيبر هم د ننګ غرونه لري، خو کاش چې د سوات په غرونو په څېر شنه وای، ما ورته و ويل ګرانه به وي، چې د سوات غرونه له خيبره غوره وګڼم، فطرت بايد زموږ ټولې جذباتي، تخيلي، روغتيايي، روايتي او ان روحاني غوښتنې پوره کړي، خيبر په خپل ځای پوره اهميت لري، د دې په تورو کاڼو کې چې د لرغونو فاتحينو د ښوېدلو نيليو د نالونو کوم نقشونه پاتې دي د نړئ مورخينو ته د هلال حيثيت لري، هغه هلال چې د ماضي د ماښامونو لاره ورته معلومه ده، خيبر د يو ستر قامي روايت امين دی او اوس خو پـه دې غرونو کې د ستر حمزه سندرې هم غزونې کوي، خو ته به وايې چې ما د

(c) ketabton.com: The Digital Library

سوات او خیبر ښکلایزه پرتله کوله که داسې وي، نو زه د سوات ښایست هم له خیبره ډېر نه ګڼم، د کشمیر رنګي سوات شوخ شینوالی د جمال تږي ذوقونه تازه کوي، دلته هیبت، لوړتیا او ټینګوالی د جمال تږي ذوقونه اوبه کوي او روح د حېرت په وزرو د یو نامعلوم ښایست په لور په پرواز راولي، زمرک موسکی شو ویل یې سمه ده زه پوهېږم چې هسې په نوم د ادبیاتو محصل یې ګنې ګړه وړه دې د فلسفیانو په شان دي.

-ما څه ویلي دي هغه څه مې چي زړه ته راځي، د مدلل بیان هڅه یې کوم نوره ستا خوښه، چې هر نوم راباندي ږدې ماته منظور دی. زمرک په خندا شو ویل که دغه راز څو مناظرې مو وکړې انشاءالله زما کار به هم وکړې چېرته د غره په سر به ناست یم لاسونه به لېونیانو غوندي اچوم او وایم به (من مست و تو دیوانه، ما راکه بردخانه) هسې به ځینو شاګردانو دري درس ته غوږ نه نیو، ګوره چې ما ورته غوږ نیولی و د ښوونکي دا خبره مې څومره په ځای وکړه ما ورته په موسکا و ویل دا الزام خو دې ببېرته واخله چې چا دري ته غوږ نه نیوه، د ړومبۍ خبرې غوندي دي دویمه هم بنسټ نه لري کومه منظومه خبره چې تاوکړه هغه د مولانا جلال الدین بلخي ده. زمرک په کړس، کړس وخندل ویل یې خبره د مستۍ وه، جذباتي غوندې شوم بخښنه غواړم، خو ته هم له دې معما، معما خبرو نه تېر

(c) ketabton.com: The Digital Library

شه، هغه اوزي وګوره څنګه آوازونه کوي دا راته و وايه، چې د خيبر او پېښور د اوزو د آوازونو تر منځ څه توپير دی.

په دې خبره ما هم غلي، غلي وخندل، دا ځواب به هم په فلسفه کې ګورو، د ډاروين په کتابونو کې به يې ګورو چې د غره او هوارې څاروي په کومو برخو کې توپير لري و ولې يې لري. ښه په دې نه پوهېږې خو که درته و وايم چې ښارۍ او غرنۍ جينۍ څه فرق لري نو تر سبا به هم ستا د ښکلا پېژندنې ليکچر خاتمه ونه مومي، په دې خبره زما د وجود نابلده خوشالي والوته، بيا څانګه رايادہ شوه. هغه هم د خپلې خبرې پر اغېز وپوهېد، غلی شو زه هم په فکرونو کې ډوب شوم په دې کې کلنډر غړ وکړ (علي مسجد والا) موږ دواړه هم رانېغ شو موټر ودرېده، خپل بکسونه مو کوز کړل او د تيرا موټر ته وختو د لوړ ژورو، شنو غرونو او خړو خوړونو له ننداره وروسته د تيرا غرنۍ سيمې ته ورسېدو، د پښتنو د قامي رواياتو په کتاب کې د روايتي ژوند په زړه پورې پاڼه وه. زما ننداره نېمګړې ننداره بللې شئ ځکه چې زه د زمان او مکان له پنجرو ډېر زر وتم، کله به ماضي ته تللې وم د څانګې سره به مې خبرې کولې او کله به په راتلونکي وخت کې د څانګې سره د يو ناليدلي غره د سپينې چينې پر غاړه ناست وم، هغې به غلې سندره ويله او ما به ورته د نغمو مترنمې جامې جوړولې، تيراه

(c) ketabton.com: The Digital Library

ته په رسېدو مو یو زلمی ولید، پر لاره یې د راډیو سندرې اورېدې د پاخه عمر یو سړی پرې راډیو بنده کړه ورته یې و ویل په لارو کې سندرې اورېدل د پښتنو روایت نه دی، زمرک راته و ویل دلته خو ژوند ګران دی پر سندرو هم قدغن دی، ما ورته وویل ښه قدغن دی غوړ. شه ټول چاپېریال سندره، سندره دی، د مرغانو اواز، د روانو اوبو آواز، د ونو د پاڼو آواز بس لکه د رباب د بېلا بېلو تارونو بېل آوازونه چې یوه نغمه جوړوي، غوړ. شه څومره موزونیت او موسیقیت لري لکه د څانګې د ګلورینو پاپیو د ښکالو سر او تال، په داسې حال کې د راډیو سندره داسې ده لکه په حلوا کې اغزي. زمرک په خندا شو ویل یې تا رښتیا ویل ته په هر څه کې د څانګې د ښایست اجزا ګورې، خو د راډیو بندول داسې هنري جواز، بلکې روایتي بندیز نه لري لکه ته یې چې وایې، ما هم ورسره د سر په خوځولو او د شونډو په موسکا ومنله ، پر لاره روان و یو خوا بل خوا مو کلا ګانو ته کتل چې لوړ، لوړ خونړي برجونه یې لرل داسې ښکارېده لکه د دې کلا ګانو تر منځ چې هېڅ اړیکي نه وي، خو د سپینو کوترو سیلونه له یوه برجه الوتل او پر بل کېناستل اخر مو یو ځوان ته و ویل چې موږ سیلاني یو ویل یې هیڅ غم مه کوئ، زما مېلمانه یاست. زېړ مازیګر و، په غرونو وروستۍ وړانګې خورې وې داسې ښکارېدل لکه د سیمې نه چې زرین دیوالونه تاو شوي

(c) ketabton.com: The Digital Library

وي، یو ډله نجونې له ګودره را روانې وې چې زموږ خواته راورسېدې د ګرېوان روپیو او د لمن پاولیو یې نغمه خپروله، زموږ میزبان سره ټوپک و، زمرک ترې پوښتنه وکړه. چې ولې ټوپک ګرځوې ویل یې دا د سړیو ګاڼه ده، ماښام حجرې ته لاړو ښه ډوډۍ یې راباندي وخوړه، د لمانځه لپاره ټول حجره پاڅېده زموږ زړه و او که نه، خو اودسونه مو وکړل او پر لمانځه ودرېدو، بېرته چې حجرې ته راغلو یو نوي زلمي د تېراه د مېلمه پالنې خبرې کولې، زمرک ماته په شوخو سترګو وکتل بیا یې هغه زلمي ته مخ کړ ویل یې موږ ستاسو مېلمانه یو سندرې اورېدل غواړو، هغه موسکی شو او غږ یې کړ سپین ګله! مېلمانه سندرې غواړي. سپین ګل اواز ورکړ لږ صبر وکړه څه ګورو چې سپین ګل د چرسو چیلم ته ناست و غټ، غټ بریت او له جلاله ډکه څېره یې لرله سرې سترګې یې زموږ پر لور را واړولې او ویې ویل تاسو سندرې اورئ؟ ما ته هغه د لارې راډیو رایاده شوه او د سپین ګل سرې سترګې راته مخامخ وې. زړه راته و ویل ورته و وایه چې: نه نه موږ سندرې نه غواړو، خو چا آواز ورکړ هو همدوی و ویل، ښه ده نن به ښه آوازونه درباندي واورم، خو کارتوس نه شته زه یې راوړم تاسو دا کړکۍ بندې کړئ، غږ تر لرې لاړ نه شي، ځوان و وت زمرک له بله کټه راغی ما سره کېناسته ویل یې لکه، چې مرګ مو راغی، ما ورته و ویل مازیګر دې ونه

(c) ketabton.com: The Digital Library

لیدل چې هغه لاروی یې د راډیو له غږولو منع کړ، دوی به البته زموږ دا غوښتنه د ځان سپکاوی ګڼلی وي.

دواړه ښه وپرېدلې و، زمرک راته په غریو نیولي غږ و ویل: اجل مو دلته راورسولو، موږ په همدې سوچونو کې و چې هماغه سور سترګی ځوان راننوت ټیپ ریکارډر ورسره و خو لکه ناوې یې د راز، راز ټوټو په پوخ کې نغښتی وېي ویل اول زموږ د وطن سندره واورئ:

په سر یې واورې وروي په ښېخ ګلونه دي

لاړ شه د تېراه په غرونو باران وریږي

سره له دې چې زمرک وېرولی وم خو په سندره کې ډوب شوم او دا ځکه چې په سندره کې غرونه او باران و، زه یې ټولګي ته رسولی وم او په غلي او ورو آواز مې د ځانګې له خولې دا سندره اورېده:

دا ګېر چاپیر په غرونو راغله بارانونه یاره

ږلې وریږینه

مه ځه دلته شپه وکړه پاتې شه باران دی

(c) ketabton.com: The Digital Library

زه لا په سوچونو کې ډوب وم چې زمرک مې پر ولي لاس کېښود ویل یې ته خیال پلو وهې څه به کیږي د کارتوسو آواز، کړکۍ بندول، څه خو شته هغه دا خبرې کولې چې د ټیپ آواز خراب شو، سپین ګل بند کړ مسالې یې ترې راو وېستې په اور یې کېښودې او موږ ته یې رامخ کړ ویل یې مېلمنو خپه نشۍ دوکانه بند و نوي کارتوس پیدا نه شو دا زاړه به په اور ګرم کړو، ما او زمرک یو بل ته وکتل او موسکي شو زمرک ورته و ویل تاسو دې ته کارتوس وایي؟ هغه وخندل ویل یې ولې تاسو یې کارتوس نه بولی؟ زمرک ورته و ویل نه د ننګرهار خلک یې (مسالې، بېټرۍ یا بالتۍ) بولي په پېښور کې ورته سیلونه وایي حجره کې ناستو خلکو ته دا نومونه عجیبه و. ویې خندل زمرک ورته و ویل تاسو زموږ نومونو پوري وخندل، خو ستاسو نوم موږ ژړا ته راوستي و، هغه ځوان ترې په خپله لهجه پوښتنه وکړه چې هغه څنګه؟ زمرک ورته و ویل موږ کارتوس د ټوپک ګولۍ ته وایو، ورته یې د مازیګر له راډیو خبره پیل کړه او بیا یې د حجرې او کارتوس ټوله کیسه ورته هغسې وکړه څنګه یې چې احساس کړې وه، د کیسې په ختمېدو په حجره کې داسې یوه زوروره خندا خپره شوه چې تر اوسه راته یاده ده.

(c) ketabton.com: The Digital Library

شپه مو تېره کړه او سبا پیاده د ننګرهار په لور روان شو په رښتیا هم د غرونو لارې ستونزمنې وې. په ځینو ځایونو کې خو به مې د ستړیا له کبله پښې په رېږدېدو شوې، څو شېبې به مو دمه وکړه، بیا به روان شو، زمرک ډېر راته و ویل چې کچره به کرایه کړو. ما ورته و ویل دومره لا پاتې نه یم، که بیخي درته پرېوتم بیا مي څه غم کوه اوس به په دمه، دمه ځو سیل او چکر خو وایې همدې ته له غره واوړېدو موټر مو کرایه کړ له پچیره واوښتو او ځانونه مو د سپین غره لمنو ته ورسول. سپین غر ځکه ورته وایي چې لوړې څوکې یې تل په واورو سپینې وي، یوازې سږ کال دغه څوکې د وچ کالې له کبله بې واورو وې.

مازیګر، مازیګر یوه کلي ته ورسېدو د لمر سترګه د یوې شنې څوکې په نښترو کې داسې ښکارېده لکه ناوې چې شین شال پر مخ هوار کړی وي او زرینه ټیکه یې له حیا ډکې پلوشې شیندي شپانه شپېلۍ په لاس د خپلو رمو سره د آبادۍ په خوا را روان و، د وړو، وړو ورکیو د پښو ترپکې او د غرنیو ویالو نغمې یو ځای کېدې د تنورو په پیروزئي لوګیو کې تاویدې، له هسکو څوکو یې خولې اخیستې او په نامعلوم لوري یې خاموش پراونه وهل.

ښکلی کلی ؤ، دومره ښکلی چې ننداره مخکې تلو ته نه پرېښودو، زمرک ته مې

(c) ketabton.com: The Digital Library

و ویل چې شپه به همدلته کوو خو یوه خبره واوره چې دلته به د څانګې یادونه راته نه کوې، کېدی شي څوک یې وپېژني دا غرني پښتانه دي، په تبرونو به مو داسې میده کړي لکه وچ لرګي، بله دا چې د څانګې یادونه به ما هم له کومه ګړنګه وغورزوي، هغه راسره په ورین تندي ومنله. د یو سپین سندریز خوړ په غاړه پر یوه شنه جلګه کېناستو د خوړ له شونډو پسته غرنۍ سندره پورته کېده او باد ورته په مینه، مینه د څېړیو شنې پاڼې نڅولې.

هغه مهال چې شنې صحرانۍ کوترې جوړه جوړه خپلو ځالو ته ستنېدې یوه زلمي پر موږ سلام واچو، موږ هم غبرګ وعلیکم السلام و ویل، زلمي هم لکه د خپلې سمسورې سیمې هوا په نرمه ژبه خبرې پیل کړې، ویل یې مېلمانه ښکارئ، له کومې خوا مو پېښه کړې ده؟.

زمرک ورته و ویل د همدې ننګرهار یو، سیل لپاره راغلي یو، خو دلته پېژندګلو نه لرو.

غرني ځوان وخندل ویل یې دا د سپین غره د لمنو ننګرهار دی، دا د هر افغان وطن دی، پښتون وي، پارسي وان وي او که نورستاني، پورې غره کې یو ځای دی، "توره بوړه" یې بولي. کله چې سره کاپر راغله د ننګرهار د مجاهدینو لوی مرکز همدلته و. د هر ځای او هر قام خلک په کې و. ډېر یې د همدې ځای شول.

(c) ketabton.com: The Digital Library

له خوږ سره نژدې هديرې ته يې لاس ونيو، يوه ډېره لويه هديره وه، دا د شهيدانو هديره ده زموږ مېړمنې او نجونې چې له خدايه خپل مرادونه غواړي، همدې هديرې ته ورځي او هغه دسمالونه ورته جنډه کوي چې په خپلو ګوتو يې پرې کښيدې کښلي وي او غرنې ګلونه يې پرې جوړ کړي وي، چې د جنګ په کلونو کې د ټول افغانستان نه راغلي مجاهدين مو وخت بې وخته پاللى شو، اوس خو که هېڅ نه وي نه سره کاپړ په وطن کې شته او نه په دې لمنو کې جنګ شته، تاسو زما مېلمانه ياست ځئ چې حجرې ته ځو ما ورته و ويل سمه ده خو څو شېبې به همدلته کېنو، هغه هم ومنله د ماښام تيارې په خورېدو وې خو پر هديره د رڼا پړاو راته او څراغونه يې په بلېدو و، د خوږ نه پورې غاړه يوه نړېدلې کلا وه، زمرک د هغې په اړه پوښتنه وکړه، هغه ځواب ورکړ چې د سره پوځ ټول فکر همدې غرونو ته و ډېرې بمبارۍ يې وکړې پوځونه يې راغلل ډېرې کلاګانې يې ورانې کړې خلک يې شهيدان کړل و ځنګلي ونې يې وسوې دا کلا هماغه وخت ورانه شوې څښتن يې پېښور کې دی، څوک چې راغلی يا يې هجرت نه و کړی کورونه يې جوړ او مځکې آبادي دي، د مهاجرينو کورونه هماغسې ړنګ او پټي شاړ دي .

د غرنې ځوان خبرې مې تر همدې ځايه اورېدلې وې، نور مې پام د خوږ په اوبو

(c) ketabton.com: The Digital Library

د شهیدانو زیارت ته اوښتی و. د ډیو په رڼا کې د جنډو رنګونه داسې ښکارېدل لکه له ډېر لرې ځایه چې څوک د رنګ رنګ ګلونو ټل ګوري، نرۍ هوا د ډیوې لمبې داسې کږولې لکه د مستو جینکو ډله چې د آزادۍ جشن نمانځي او د خپلو ځوانیو په ټول زور نڅېږي. بله خوا جنډو د درې په سپېڅلې فضا کې راګ خپراوه، د مراد راګ، ما له ځانه سره و ویل څومره د کار خلک و دغه شهیدان په ژوندیو کې داسې خلک نه شته په یوه او بل نوم سره وژني بیل شعارونه لري، خو دا شهیدان د بېلو ژبو ویوکي د جلا قومونو وګړي او د مختلفو ولایتونو اوسېدونکي و، چې ژوندي و یو مرام یو شعار او یو یې سنګر و اوس چې شهیدان شوي د ټولو جنډو آوازونه یو راګ جوړوي د اتفاق راګ د آزادۍ او آبادۍ راګ ای کاش زموږ د هیواد وګړیو غوږونه لرلای او دا له حکمت نه ډک سپېڅلې سندریز راګ یې اورېدای شوای زما دعا وه او د غرني ځوان دا وینا چې حجرې ته به ځو، پاڅېدو که موږ شو او که دی شو خو زموږ دوه بکسونه یې خپلو دوه ولیو ته واچول زمرک رباب په اوږه کړ او زه ورسره تش روان شوم حجرې ته ننوتو، د هغه ځوان د کورنۍ نور مشران او ځوانان زلمي هم راغلل، یو بل ته مو ځانونه معرفي کړه. د هغه ځوان نوم چې موږ یې حجرې ته راوستو، شین ګل و. له پېژندګلو وروسته شین ګل نورو خپلوانو ته و ویل: چې دا وروڼه

(c) ketabton.com: The Digital Library

افغانان دي سيل ته راغلي دي.

يوه مشر و ويل دوی ايله سږ کال سيل ته راغلل چې وچ کالي ده. د ښار خلک ابشارونه خوښوي و اوس ډېر ابشارونه خاموش دي، واوري به وې، چې ګټان، ګټان به راښوېدې، خو سږ کال زموږ د عملونو له لاسه د بزرګې څوکې مخ هم تور دی، ځنګلونه مو و وهل او په ويريا بيه مو وپلورل مېوه دانه هم کمه شوې ده، تېره ورځ د شمشاد ملک په حجره کې جرګه وه په غره وران شوي و، د خدای فضل و کور يې ودان دواړه غاړو واک راکړ لانجه غوڅه شوه، موږ ټول مشران ناست و د کومې موسسې خلک راغلل ويل يې ځنګلونه مه وهئ، کېدی شي سږ نۍ وچکالي له همدې کبله راغلی وي ځکه چې چېرته ځنګل ختم شي باران هم نه کيږي، يا کم کيږي، موږ يو بل ته وکتل خو بې دلاسونو مروړلو راته څه پاتې و؟ رښتيا که دا وچ کالي د غرونو د ځنګل وهلو له کبله راغلي وي، څومره لويه ګناه به مو کړې وي، خدای دې راته معافي وکړي.

د شين ګل دوی حجره د غره په نيمايې کې په ډېر ښکلي ډول له کانو او لرګيو نه جوړه وه. يوه کړکۍ يې د لاندې درې او پورې غره په خوا پرانستل شوې وه.

زمرک د کوربنو سره خبرې کولې او ما له کړکۍ نه د درې ننداره کوله، ځيني خلک چې کورونه يې بره په غره کې و پېلوځي يې په لاسونو کې و، خو رانه

(c) ketabton.com: The Digital Library

پېلوځي، پېلوځي نه ښکارېدل بلکې لکه ځيني ستوري چې آسمان ته خېژي او ځينې راکوزيږي، ډوډۍ مو وخوړه ما د درملو پسې خپل بکس پرانېست پر سر يې د فلسفې کتاب پروت و. يوه زلمي وليد زما خواته رانزدې شو ويل يې د څه کتاب دی زه يې وګورم. ما ويل ولې نه، زلمي کتاب واخيست او د لاټين خواته نږدې شو، څو شېبې يې واړو راواړو بيرته يې راکړ پوه نه شوم چې د لاټين په تته رڼا کې يې لوستی نه شو او که خوند يې ورنه کړ،

شپه چې په پخېدو شوه کوربانه يو په بل پسې و وتل تر ټولو وروسته شين ګل ووت او ژمنه يې وکړه چې سحر به که خير و سره ګورو، يوازې هغه زلمی پاتې شو چې له ما يې کتاب اخيستی و، زمرک ته مې و ويل زه ډېر ستړی يم که اجازه دې وي وبه غزېږم. هغه هم راسره خوښه کړه د شپې په تېرېدو د ځناورو آوازونه هم پيل شول او د هغو کانو آوازونه مې هم اورېدل چې د ځناورو د پښو له کبله ژورو ګړنګونو ته پرېوتل ما ځان په بړستنه کې نغښتی و خو مخ مې لوڅ و د غره دغه ټول آوازونه اشنا و او که نا اشنا په ما ښه لګېدل خو تر ټولو ډېر خوند راته د ابو چېنهار راکاوه، د ځانګې د غلې او پستې سندرې په څېر خوند.

ما دغرنۍ شپې خبرې اورېدې او د ځانګې د وجود تشبيه مې په کې لټوله، کوم زلمی چې په حجره کې پاتې و هغه ودرېد، چې له خپله کټه پاڅېده د کټ چغار يې

(c) ketabton.com: The Digital Library

زما د تصور ځنځير مات کړ، هغه لاړ او د زمرک د کټ په لنګه کېناست او ورسره يې خبرې پيل کړې.

د غرونو د ژوند، دودونو او ميودانو په اړه يې معلومات ورکول، بيا يې زمرک ته و ويل: تا وړاندې و ويل چې له پېښوره راغلي ياست، موږ هم پېښور ته هجرت کړی و، هم هلته مې تر نهمه سبق ويلی دی. بيا يې د زمرک نه د تعليم پوښتنه وکړه. زمرک ورته و ويل: زه ا و غزن دواړه د "کاينات لېسې" نه فارغ يو اوس دواړه د ادبياتو پوهنځي د لومړي کال محصلين يو.

زلمي په هيجاني انداز و ويل د کاينات لېسه! د کاينات په لېسه کې زما د ترور لور هم سبق وايه، ښانګه نومېده، هغه د همدې ځای وه د سپوږمۍ کلي وه.

د دې خبرو په اورېدو زما زړه په درزېدو شو سترګې مې دومره وغړولې، چې ايله به مې پورتني اوښکتني بانه جدا شوي وو، خو بيا هم د لاټين په تته رڼا کې د زمرک د سترګو حيرت او وارخطايي لکه د تتو ستورو ځلېده، ما ځان ټينګ کړی و او دا مې هڅه وه چې زمرک مې ويدهٔ وګڼي، زمرک هم اريان دريان و هېڅ يې نه ويل لکه چې زما خبره يې په ياد وه چې د ښانګې په اړه به هېڅ نه وايې لکه بت ناست و، خبره يې هم په بله نه شوه اړولای او يا يې دې لپاره خبره نه بدلوله، چې ځان پوره خبر کړي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

هلک خبرو ته دوام ورکړ هغه هم څو میاشتي تر مخه فارغه شوه، دوه ورځې یې ډوډۍ ونه خوړه ډېر یې وژړل پلار ته یې همدا ویل چې زه نور سبق وایم، پوهنتون ته ځم، خو بدمرغه وه نصیب یې نه و، د غرونو خلک جینۍ مکتب ته نه پرېږدي پوهنتون خو ورته سور کفر ښکاري.

مجبوري بده وي د ولور په مینه کې یې د بنګزار کلي بوډا بزګر ته واده کړه خوشاله نه ده، څوک به څه و وایي، خواره یې لکه وچه دړګۍ تناره ته و ویشته،و خو هسې تاسو پېژنده؟.

زمرک لږ غلی شو، ماته یې راوکتل او بیا یې په تت آواز ورته و ویل، نه، نه موږ نه پېژنده ډېر تېولګي و خدایزده په کوم یوه کې به وه.

د زمرک او کلي وال خبرې ختمې شوې، لاټین یې مړ کړ او په کټونو کې وغزېدل، په زړه مې څه چل کېده، خو ځان مې ټینګ کړی و، کله به مې په بدن کې د بریښنا غوندې ټکانونه خپرېدل او کله به مې په سر کې څرېکې شوې، لاسونو او پښو مې غېر ارادي حرکتونه کول تر سحره خوب رانغی، زمرک هم اړخ په اړخ اوړېده د بازوګانو له چغاره یې څرګندېده چې ویښ دی، سحر شو، ودرېدل راته ګران و، لمونځ مې په ناسته وکړ، زمرک چې لمونځ وکړ دلاسه یې ونیولم راته یې و ویل: ستا خو ډېره سخته تبه ده دا ولې؟ ورته مې و ویل نه

(c) ketabton.com: The Digital Library

پوهېږم شاید د پرونۍ سټریا او بېګانۍ یخنۍ وجه وي، خیر دی ښه به شم هغه مې بکس خلاص کړ ګولۍ یې راکړې، خو اثر یې نه کاوه ځاښت مهال مې غوښتل چې بېرته د پېښور په لور حرکت وکړو خو شین ګل نه منله ویل یې په داسې حالت کې خو دې بیخي نه شو پرېښودی. طبیب به درته راولم زموږ د غرونو له بوټو نه ښه دارو و درمل نه شته سمدلاسه به دې ټک وپټری کړي. ما د طبیب د راوستو نه ایسار کړ ورته مې و ویل په ما کله نا کله داسې چل کېږي خپل درمل رااسره دي ښه به شم.

غرمه شوه ډوډۍ یې راوړه د درملو د اغېزې لپاره مې څو کپه وکړل، ګڼې کورنیو غوړیو او پنیرو مې زه واهه له غرمې وروسته تبې پرېښودم بیا مې شین ګل ته و ویل روغ یم، تبه یې زما وکته لاس مې یخ و، د ماښو ګانو، غوزانو او دنداسې سوغاتونه یې راکړه او رخصت یې کړو، ما پېښور ته راتلل غوښتل، خو زمرک ټینګار کاوه، چې ښکلې سیمه ده مخکې ځو، ګوندې په صحت دې ښه اغېزه وکړي. په نه زړه مې ورسره ومنله زمرک بیا دواړه بکسونه اوږو ته اچولي و، رباب یې هم اخیسته خو ما ورته ویل ښه یم دا دې ما سره وي.

مازیګر مهال به وچې یوې ښکلې غرنۍ باندې ته ورسېدو، بره له غره نه ښایسته

(c) ketabton.com: The Digital Library

ورخ اوبه لکه ابشار راتوېدې خو د ځنګله نه د تبر راتلوونکي غږ یې نرم تال ماتوه، د دې دواړو غږونو په جسد کې د یوه خواږه روح احساس هم کېده.

هو! ما سندره اورېده د ځانګې سندره کټ، مټ هماغسې غلې سندره لکه په ټولګې کې به یې چې ویله ورته ودرېدو څه ګورو چې ځانګه د خپل مېړه پسې وهل شوې ځانګې ټولوي او ورو، ورو سندره وایي.

حالت مې په خرابېدو و، نه پوهېدم چې څه وکړم، زمرک پوه شو کلک یې له لاسه ونیولم وړاندې یې راکش کړم ما ورته و ویل زمرکه ځو، خو لږ مې پرېږده، هغه مې لاس پرېښود بکس مې خلاص کړ د فلسفې د کتاب لومړی پاڼه لکه د کتابچې سپینه وه قلم مې راواخیست او پرې مې ولیکل:

)ځانګې همدا سندره یو ځل بیا و وایه زما لپاره(

ځانګه او خاوند به یې چې په کومه لار راتلل تنګه وه، کاغذ مې د غره د ډډې پر همدې تنګه لار کېښود په کنج مې ورته سپین کاڼی کېښود او پر منځ یو غرنی ګل.

زه او زمرک لږ وړاندې لاړو او یوې شنې غونډۍ ته وختو د ځانګې پر لور مو کتل ځښتن یې پنډ وتړه او رسۍ یې له دواړو ولیو تاوه کړه، د ځانګې په زور یې پنډ اوچت کړ او روان شو، زړه مې درزېده چې د ځانګې پام به کاغذ ته واوړي

(c) ketabton.com: The Digital Library

او کنه، خوښه وه اوچت يې کړ، نوم مې ورسره نه و، خو خط يې زما وپيژنده له موږ چې راکوزه شوه لکه لېونۍ يې يو خوا بل خوا ګرندي ګامونه واخيستل موږ ورته د شنو بوټو له شا ورکتل زمرک راته و ويل ښه دې ونه کړه، ما هېڅ ځواب ورنه کړ بس ښانګې ته مې کتل د هغې ديدن له هر منطق نه راته زورور ښکارېده، حسين چاپيريال و، د مرغانو سندرې، د چينو وربېښمين اهنګ، ابشارونو او د شپونکي شپېلۍ کاينات يوه دلفريبه نغمه ګرځولې وه. رباب مې په غېږ کې ونيو د ښانګې سندره مې په کې راواړوله خو دومره ورو چې ايله ما او زمرک يې احساس کاوه:

دا ګټر چاپېر په غرونو راغله بارانونه ياره

ږلۍ وريږينه

مه ځه دلته شپه وکړه پاتې شه باران دی

غرونه و، سندره وه، بس يو باران نه و خو هغه کمي شايد زما او ښانګې اوښکو پوره کړی و .

ښښتن يې بار کېښود د ښانګې په ننداره شو، هر چا چې کارونه کول پر خپلو، خپلو ځايونو ودرېدل داسې حيران و، لکه چې د قيامت ورځ وي لکه لمر چې له

(c) ketabton.com: The Digital Library

برخه راختلی وي، لکه د ځانګې سندره، چې د اسرافیل شپېلۍ وي. پښتنه غرنۍ سیمه د ښځي سندره او هغه هم په دومره لوړ آواز، شېبه په شېبه د ځانګې د سندرې سوز ډېرېده او آوواز یې لوړېده تر دې چې د فطرت ټولې سندرې په کې ورکې شوې، موږ سره نزدې یو ځوان لرګي وهل خپل تبر یې په شنه ځانګه کې خښ پرېښود سترګې یې سرې شوې داسې ښکارېده چې د ځانګې د سندرې ګناه خوند ورکړی او چې سندره ختمه شي نو د ثواب په نیت به ځانګه په خپل تبر اندام کړي ما د خپل زړه درزا ته د رباب د نغمې وزرې جوړولې او د سپین غره په فضا کې مې د ځانګې سندرې ته ورغاړې ایسته، له سندرې سره کایناتو نڅا کوله زما پر سر هم چکر راغی، د غره نښترو اتڼ کاوه او هسکې څوکې نڅېدې، پر ځان نه پوهېدم چې له رباب سره مې څه کول ایله بس دومره پوه شوم چې د رباب تار وشلېده او په سترګو مې تیاره شوه او چې بیا مې سترګې وغړولې نو پېښور کې د خیبر هسپتال په ایمرجنسي وارډ کې زمرک او څو تنه ډاکټران زما سرته ولاړ وو.

پای

(c) ketabton.com: The Digital Library

**Get more e-books from www.ketabton.com**
**Ketabton.com: The Digital Library**